# لمونځ او اسرار ئې

## حکمتیار

**د کتاب پیژندنه:**

نوم: لمونځ او اسرار ئې
لیکوال: حکمتیار ( امیر حزب اسلامي افغانستان )
دريم چاپ: ۱۳۹۸
د چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه
قیمت: (   ) افغانۍ

**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| لمونځ او اسرار ئې | ۱ |
| حکمتیار | ۱ |
| فهرست | ۵ |
| سریزه | ۱ |
| لمونځ | ٤ |
| نیت او هدف | ۸ |
| قبـله | ۱۰ |
| د لمانځه حرکات | ۱۳ |
| قیـام | ۱۵ |
| تسبیح | ۱۸ |
| تعوذ او تسمیه | ۱۹ |
| فاتحه | ۲۱ |
| د الله جل جلاله د اسماوو لنډه پېژندنه | ۳۱ |
| قرائت | ۳٤ |

ركوع ------------------------------------------------------------------------------------٣٥

سجـده --------------------------------------------------------------------------------٣٩

قعـده ---------------------------------------------------------------------------------٤٢

دعرفات دعاء -----------------------------------------------------------------------------٤٦

د طائف دعاء------------------------------------------------------------------------------٤٧

سـلام -----------------------------------------------------------------------------------٤٨

لمونځ د ښېګڼو سرچينه--------------------------------------------------------------------٤٩

لمونځ د مضطرب زړه درمل--------------------------------------------------------------------٥٥

په جګړوکي د بري عامل -------------------------------------------------------------------٦٠

د اسلامي حكومت لومړۍ دنده-------------------------------------------------------------٦٢

د ناصالح خلف نښه ----------------------------------------------------------------------٦٥

لمونځ دكچه خويونو مانع-------------------------------------------------------------------٦٦

د مسجد سمسوروونكي-----------------------------------------------------------------------٦٩

د مسجد آداب ---------------------------------------------------------------------------٧٥

د لمانځه او جماعت تارك--------------------------------------------------------------------٨٠

قنوت-----------------------------------------------------------------------------------٨٢

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

لمونځ تر ټولو مهم او ستر عبادت دئ، په اسلام کې تربل هر عبادت پر لمانځه زیات تأکید شوی، هومره تأکید چې پرېښودل ئې له اسلام د وتلو نښه او په اداء کولو کې ئې کسالت د نفاق علامه ګڼل شوې، ګواکې دا لمونځ دئ چې مسلمان له کافر او مؤمن له منافق بېلوي. د لمانځه په اهمیت هلته پوهېدی شو چې په قرآن کې د هغه په اړه په جدي او مکرر تأکید او پخپله د لمانځه د حرکاتو او الفاظو په معنی او مقصد پوه شو.

متأسفانه له اسلام د لري والي او د اسلامي عباداتو له روح او مقصد د بې خبرۍ له کبله؛ نن نه یوازې په عوامو کې بلکې په اسلام د پوهې مدعیانو کې هم لمونځ په یوه شکلي او تشریفاتي حرکت یا دود او عادت بدل شوی.

ښایي تاسو فکر وکړئ چې که د لمانځه حرکات او الفاظ مو د فقهي احکامو مطابق وي نو حتماً به مو لمونځ مکمل او د الله په نزد مقبول وي. خو کېدی شي حقیقت داسې نه وي. زه بلنه درکوم چې لومړی دا رساله ولولئ، بیا د خپل لمانځه په اړه قضاوت وکړئ چې ستاسو لمونځ عبادت دئ که عادت؟ او څومره باید د خپلو لمونځونو د قبلېدو طمع ولرئ؟

په حقیقت کې لمونځ الله تعالی ته د وړاندې کېدو لپاره، له خاص

احساس او شعور راولاړ شوي ځانګړي ارادي حرکات او اقوال دي چي که د لمانځه له پیل ترپایه مراعات نشي لمونځ ناقص دئ.

پدې لنډي رسالې کې به د لمانځه په اړه په لاندي مسائلو بحث کوو:

- د لمانځه نیت او هدف ئې.
- قبله او مقصد ئې.
- د لمانځه حرکات او محرکات ئې.
- الفاظ او معنی ئې.
- روحیه او مربوط شعور ئې.
- د لمانځه اغېزې.

خدایه! زموږ هغه لمونځونه د خپل وسیع کرم او لطف له مخي قبول کړې چي نه ئې د حرکاتو په مفهوم او مقصد پوهېدو او نه ئې د الفاظو په معنی، هم ئې له روح غافل وو او هم له غوښتنو، له پلار نیکه په میراث راپاته یوه دود، دستور او یا یوه تکراري عادت په څېر مو ترسره کړی، حرکات او الفاظ مو د فقهي احکامو مطابق، خو له روح، معنی او شعور خالي.

الهي! موږ ته د هغه لمانځه توفیق او خوند راپه برخه کړې چي د مؤمن معراج دئ، د معنوي ارتقاء په لور ئې د روح د الوتني مهال، له محبوب معبود سره وصال، د جهاد په سنګرونو کې وسله او ډال، په ستونزو او کړاوونو کې د مستعان خدای جل شأنه د مرستي ترلاسه کولو ذریعه، پرېشانه زړونو لپاره ډاډ، د بېچاره وو چاره، د لار ورکو لارښود، له منکر او فحشاء د مخنیوي وسیله، د دعاګانو د اجابت واسطه او د بنده له بندګۍ

د کاملي آزادۍ د قیامونو مقدمه ده.

په رښتیا چا چي د الله له ښه پېژندو وروسته په واقعي معنی او شعوري توگه الله تعالی ته مخ کړی وي، ده ته د تسلیمۍ په مفهوم ئې لاسونه اوچت کړي وي، په ژبه او په خپل هر حرکت سره ئې د ده په عظمت او لویي اعتراف کړی وي، هغه ته لاس په نامه درېدلی وي او له الله جل شأنه سره ئې پدې خبري مسلسل او مکرر تعهد کړی وي چي له تا پرته د بل چا عبادت نه کوم، له تا پرته بل چا ته د احتیاج لاس نه اوږدوم. او له زړه ئې په شعوري توگه الله تعالی ته انحناء کړې وي او د هغه په وړاندي ئې د انقیاد تندی پر زمکه اېښی وي، څنگه ممکنه ده چي داسي انسان به له الله تعالی پرته بل ته سر ټيټ کړي، څنگه به د بل بندگي وکړي او څنگه به د شیطان په پله پل کېږدي او په ناروا لارو به د تلو اراده وکړي؟!

د لمانځه په معنی، تأثیر او د انسان او د ده د ټولني په جوړولو کې د هغه په اغېز د ښه پوهېدو لپاره دا رساله لیکل شوې. هیله مي دا ده چي هرڅوك د دې رسالې له لوستلو وروسته لمونځ کوي ما له خپلو دعاگانو هېر نکړي.

اللّٰهم لاتجعلنا من اَلْمُصلِّينَ اَلَّذِينَ هُمْ عَن صلاتِهِمْ ساهُونَ

الهي! له هغو لمونځ کوونکو مو ومه گرځوې چي له خپل لمانځه غافل وي.

# لمونځ

د الصلوة ښه او دقیقه لغوي معنی لمونځ ده چي له لمانځني او تجلیل اخیستل شوی، یعنی لمونځ په حقیقت کي د اللّٰه تعالی په جلال او عظمت اعتراف کول دي. د لمانځه په الفاظو او حرکاتو سره د لوی خدای لمانځنه او تعظیم ترسره کېږي.

ځیني د الصلوة بنسټ او اصل صلة گڼي چي پدې توگه لمونځ د اللّٰه او بنده ترمنځ د پیوستون او د اړیکو ټینگولو معنی ورکوي. په حقیقت کي لمونځ هم د انسان رابطه له اللّٰه جل شأنه سره په مکرر او پرله پسې ډول ټینگوي او هم انسانان په خپلو منځونو کي یو بل ته نږدې کوي او د دوی بېلي بېلي قبلي یوه کوي.

ستاسو لمونځ یو مقدس روحاني ملکوتي سفر او د اللّٰه په لوري د روح الوتنه ده. ته غواړې له اللّٰه تعالی سره خپلي اړیکي تجدید کړې، د هغه په وړاندي ودرېږې او له هغه سره مخامخ تکلم وکړې، د همدې لپاره باید ستا هرڅه پاك او ستره وي، دا مقدس سفر له تا د عقیدې پاکوالی، د وجود پاکي، د ودرېدو د ځای پاکوالی او د جامو پاکي غواړي.

باید دې ته متوجه وې چي که اللّٰه جل شأنه ستا لمونځ له معمولي ظاهري نجاست او ناپاکۍ سره نه قبلوي نو په هغه صورت کي به څنگه ستا لمونځ قبول کړي چي:

- ستا عقیده د شرك په رجس او پلیتي ناپاکه او ستا افکار او عزائم د

شیطان له ناولو وسوسو ډك وي.

- ستا د وجود سلول سلول له حرامو جوړ شوی وي، ستا مطعم حرام، ستا ملبس حرام، ستا د معیشت د تأمین لاري چاري حرامي، ستا کار کسب، راکړه ورکړه بیع او شراء حرامه. د تن جامې دي حرامي او له حرامو لارو ترلاسه شوې، د خیانت، رشوت، غلا، د بل په حق د تېري له لاري.
- ستا مصلی او هغه زمکه چي ته ورباندي ودرېږې او الله جل جلاله ته ورباندي سجده کوې، په ظاهر کي پاکه، خو په باطن کي له حرامو لارو ترلاسه شوې.

ما ته ووایه! له دې ناپاکۍ او نجاست سره سره به پاك رب چي یوازي د پاك بنده پاك عبادت قبلوي، ستا داسي لمونځ څنګه قبول کړي؟

پیغمبر علیه السلام فرمایي: د هغه چا دعاء به الله جل شأنه څنګه قبوله کړي چي که څه هم له لري ځایه، له اوږده مزل وروسته کعبې ته رسېدلی، د اوږده سفر آثار ئې په خیرنو جامو او په دوړو لړلو وېښتانو کي څرګند دي، د حجرالاسود مخي ته ولاړ دئ، د دعاء لاسونه ئې اوچت کړي، خو مطعم (خواړه) ئې حرام دي او ملبس (جامې) ئې حرامي دي!!

عن ابي هريرة رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه و سلم قال في الرّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ : يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِّيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لَهُ .

رواه مسلم

زما لمونځ کوونکیه وروره!

ته د لمانځه لپاره اودس کوې، ستا اودس یوه ظاهري بڼه لري چي د

مخ، لاس، پښو پرېمنځل او د سر مسح کول دي خو د دې ظاهري حرکت ترشا ژور معنوي مفاهيم مضمر دي. د دې حرکت معنی او تقاضا دا ده:

- له هر هغه ناولي او حرام کار چې په لاس تر سره کېږي، لاسونه پرېمنځم، خپل لاس تل پاك ساتم.
- له داسې عمل چې الله ته مې مختورن کړي ډډه کوم، غواړم مخ مې تل سپین وي، په طمعې او سوال سره خپل وقار او عزت نه ختموم.
- خوله مې پاکه ساتم، نه حرام خوراك پرې کوم او نه حرامه وینا، له هرې ناپاکې خبرې، دروغ، دوکې، غیبت، نمامت او شیطانت ئې خوندي ساتم.
- له سر مې ټول غلط افکار، ناجائز عزائم، ناروا شیطاني منصوبې، د مسلمان لپاره دسیسې، له باطل سره علاقه او له مفسدینو سره تعلق، لرې غورځوم، په خپل سر پاك لاس راکاږم او هر راز پلیتې ترې پاکوم.
- پښې مې مینځم، په پښو مې د حرام کار په لورې له تګ ډډه کوم، دا پښې به ما فقط د الله په لورې او د حق په پاکیزه لار بیایي او هیڅکله به د پلیت شیطان په ناولې پل پل کښېنږدم.

ستا د لاس، مخ او پښو پرېمنځلو او د سر مسح کولو به څه اهمیت وي که همدا جوارح دې ټول په حرامو کړو وړو کې مصروف او سلول سلول دې له حرامو ډك او شپه ورځ د پلیت شیطان په خدمت کې وي. هغه ژبه چې له اودس او لمانځه مخکې او وروسته په حرامه وینا خوځېږي، هغه لاسونه چې په ناولو کارونو اخته وي، هغه ګوتې چې ناروا لیکنې کوي، د باطل په خدمت کې او د ظالم ظلم توجیه کوي او د مفسد تکریم او ستاینه

کوي، څنګه ومنم چي دا خو له، دا ګوتي او دا لاسونه پرېمنځل شوي؟!
پداسي پرېمنځلو سره خو انسان کولی شي له اسرارو بې خبر انسان دوکه کړي خو علیم، خبیر او په اسرارو پوه خدای به څنګه دوکه کړي؟!

* * *

# نيت او هدف

ته به گمان کوې چي ښايي د لمانځه نيت يوازي همدا څو الفاظ دي چي په ژبه ئې تکراروې: د دې وخت دومره رکعته لمونځ کوم... پدې امام پسې مي اقتدا وکړه، مخ مي د قبلې په لوري کړ...) خو کېدی شي په خولې د همدې الفاظو له تکرار سره سره، تا اصلاً د لمانځه نيت نه وي کړی، دا ځکه چي نيت د زړه کار دئ نه د ژبې.

ستا نيت په هغه صورت کې صحيح دئ چي د زړه له کومي دي ويلي وي چي: د الله جل جلاله په وړاندې ودرېږم، د ده د رضاء د حصول لپاره، له ده سره د راز او نياز په خاطر، د ده د لمانځني او له ده سره د خپل پيوستون ټينگولو لپاره د ده له امر سره سم لمونځ کوم. هغه زما رب دئ، زما د هرڅه واکمن دئ، د هستي هرڅه د ده په اختيار کې دي، د مرگ، ژوند فيصله هغه کوي، همدی دئ چي رزق او روزي راکوي، زما د عزت او ذلت پرېکړه هغه کوي، زه په هرڅه کې هغه ته اړ يم، زما سترگې د ده په اراده لار راښيي، زما زړه، دماغ، اعصاب او حواس د ده په امر کار کوي. زما خوب ويښه د ده په امر دي، زما مشکلات هغه راته آسانوي، له کړاوونو د وتلو لاري هغه راته پرانيزي، پدې عالم کې يوازي هغه څه کېدی شي چي دی ئې وغواړي او څه چي دی ئې کېدل وغواړي که څه هم ټول عالم د هغه د مخنيوي لپاره ملاوتړي هرومرو به ترسره کېږي، او څه چي دی ئې ونه غواړي نشي کېدی، که څه هم د کائناتو ټول ځواکونه د هغه د

تحقق هغه وکړي.

چي کله ته په همدې نیت او له همدې شعور سره په لمانځه ودرېدلی یې، نو تا واقعاً د لمانځه نیت کړی.

ستا لمونځ، په همدې نیت او د هغه ترشا له همدې ایماني شعور سره، د الله اکبر په ستر شعار پیل کېږي، ستا د نیت خلاصه او ستا د هغه خاص شعور او انګېرني حاصل په همدې شعار کې راڅرګند شوی:

الله اکبر: الله تعالی تر ټولو ستر دئ.

تر هغه هم چي زه ئې فکر کوم. او زه چي همدا اوس اوس په خپل لمانځه سره څه کوم د الله د عظمت او لویي په وړاندي ډېر ډېر وړوکی حرکت دئ، هغه تردې ډېر ډېر ستر دئ.

که تا په رښتیا او د زړه له کومي او په شعوري توګه دا شعار ورکړی وي، نو په خدای قسم چي له الله پرته به هیڅکله د هیچا لویي په تا کې وېره او حیرانتیا راولاړه نکړي، د دنیا هر ستر ځواك به د الله جل جلاله د لویي په مقابل کې تا ته وړوکی او ضعیف مخلوق برېښي.

# قبـله

ته د دنیا له ټولو مسلمانانو سره یوځای هره ورځ څو څو ځله، د یوه خاص ځای په لوري مخ کوې او لمونځ ترسره کوې چې هغه ستا او د دوی ګډه یوازینۍ قبله (مخ لوری) دئ. هغه د خدای کور (بیت اللّٰه) دئ، یعنی ته له خپلو نورو مسلمانو وروڼو سره یوځای په وار وار د اللّٰه تعالی د کور په لوري مخه کوې او پدې سره عملاً دا عزم اعلانوې چې له اللّٰه جل جلاله پرته د بل چا کورته نه مخه کوم، نه پناه وړم او نه ئې دړه ټکوم.

ته ډېر خلك داسې ګورې چې قبله ئې د اللّٰه جل جلاله کور نه؛ بلکې د دنیا د واکمنانو قصرونه وي، مخه ئې همدې قصرونو ته، طمع ئې له همدې قصرونو، وېره ئې له همدې قصرونو، طواف ئې د همدې قصرونو، د دې قصرونو د خاوندانو احترام ئې په زړه کې او د دوی لویې او عظمت ئې په دماغ مسلط.

آه، څومره ډېر خلك داسې ګورم چې په ظاهرکې ئې مخه د خدای د کور په لوري وي خو په حقیقت کې د دوی د زړونو قبلې نوري وي، په هماغه وخت کې چې د بیت اللّٰه په لوري ئې مخه وي زړه ئې نورو قبلو ته متوجه وي.

هغه څوك چې په شپه ورځ کې پنځه ځله په واقعي معنی او له دې شعور سره قبلې ته مخه کوي چې زه د زمکې او آسمانونو او ټول عالم د رب د کور لوري ته مخه کوم او د هغه دروازه ټکوم، آیا ممکنه ده بلې دړې ته

ودرېږي او د بل کور طواف وکړي؟

د کور یووالی د هغه کور اوسېدونکي سره متحد کوي او په دوی کې د یووالي احساس راولاړوي، د یوې کورنۍ غړي له دې کبله یوه کورنۍ او یو موټی وي چې کور ئې ګډ دئ، د یوه ټبر خلك د کور د بېلوالي له کبله ورو ورو هومره سره لري شي لکه پردي.

له نورو سره یوځای د الله د کور په لوري مخه کول او د یوه معبود دړي ته د ودرېدو معنی دا ده چې ستا د قبلې ورور؛ ستا ورور او ستا د لویې دیني کورنۍ غړی دئ.

ډېر خلك داسې دي چې د قبلې د سم او دقیق استقامت معلومولو لپاره ښه غور او احتیاط کوي، حتی قطب نما په جېب کې ګرځوي، خو که د دوی د زړه کیفیت معلوم کړې پوه به شې چې د دوی د زړونو قبلې څومره کږې دي او څومره له اصلي قبلې په معنوي لحاظ کاږه ودرېږي.

ډېر د تقوی مدعیان بیا داسې دي چې بل کس د ده له تخمیني قبلې څو سانتي متره یوې بلې خوا ته په ودرېدو تکفیروي، پداسې حال کې چې د قبلې مالك خدای هغه چا ته چې نیت ئې سم وي او د قبلې په لوري د خپل استقامت سمولو لازم دقت او احتیاط ئې کړی وي وایي:

وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ *

البقرة: ۱۱۵

او مشرق او مغرب د الله دي، نو هري خوا ته چې مخ کړئ الله په هماغه لوري کې دئ، یقیناً چې الله پوه واسع دئ.

پدې حالت کې چې هري خواته لمونځ وکړې ستا لمونځ قبلېږي که څه

هم اشتباهاً له قبلې بل لوري ته ودرېدلی وې. ډېر جنابان بیا داسي دي چي له بل سره په یوې فرعي او جزئي مسئلې کي د اختلاف له کبله د خپلي قبلې ورور تکفیروي او د هغه په خلاف هرڅه ویل او هر څه کول جائز ګڼي، حال دا چي د قبلې په مقصد پوه، زموږ د مذهب امام ابوحنیفه رحمة اللّٰه علیه وایي:

لانُکفرِّ اهل قبلتنا

موږ د خپلي قبلې اهل نه تکفیروو.

په داسي حال کي چي د قبلې د یووالي یو ستر مقصد او هدف دا دئ چي د دنیا ټول مسلمانان متحد کړي خو متأسفانه ناپوهان او جاهلان له هماغه څه چي علیم او حکیم خدای جل جلاله د مؤمنانو د یووالي لپاره ټاکلي د اختلاف او افتراق وسیله جوړوي.

# د لمانځه حرکات

ستا لمونځ له ګڼ شمېر ډېرو مهمو او با مقصده حرکاتو جوړ شوی چې هر یو ئې ځانګړی محرك، علت او حکمت لري.

لومړی حرکت له لومړي تکبیر سره د دواړو لاسونو پورته کول دي، دې ته تکبیر تحریمه وایي، په همدې سره لمانځه ته ننوځو، دا د لمانځه داسي برخه ده چې له هغه پرته لمونځ نه صحیح کېږي.

ته پوهېږې چې د دنیا په ګوټ ګوټ کې د ټولو انساني ټولنو ترمنځ دا عادت او دود دئ چې کله یو بل ته تسلیمېږي او د هغه په خلاف له جګړې لاس اخلي نو لاسونه پورته کړي. د لاسونو دا راز پورته کول له جګړې د لاس اخیستلو او د تسلیمۍ نښه ده. ته د لمانځه په پیل کې د الله جل شأنه په وړاندي پدې حرکت سره له بغاوت لاس اخلې او له الله جل جلاله او د ده له سننو سره له جګړې خپل برائت او بېزاري او د الله تعالی په وړاندي خپله کامله تسلیمي او انقیاد اعلانوې. ښایي تا به په کومي جګړې کې کوم کس داسي لیدلی وي چې د بل په وړاندي ئې لاسونه اوچت کړي وي او د ده له دې حرکت ته ښه پوهېدلی یې چې پدې سره هغه مقابل طرف ته څه پیغام لېږل غوښتل او د ځان له خوا ئې هغه ته د کومي خبرې اطمئنان ورکولو. خو ما ته ووایه: آیا کله د لمانځه په ابتداء کې د تکبیر تحریمه او الله اکبر په ویلو او د لاسونو د پورته کولو په دوران کې ستا په زړه کې دا خبره راګرځېدلې چې زه د الله په وړاندي له هر راز

بغاوت لاس اخلم او خدای ته خپله کامله تسلیمي اعلانوم؟ که له دې شعور او احساس سره تا خپل لاسونه نه وي پورته کړي نو ما ته ووایه چي لدې حرکت ستا مقصد څه وو؟ هسي یو تقلیدي، بې روحه او بې مقصده حرکت؟!!

عجیبه ده چي ځیني پدې خبره خپلو منځونو کي په شدید اختلاف کي لوېږي چي له تکبیر تحریمه سره باید لاسونه ترغوږونو پوري اوچت شي او که د غوږونو او اوږو ترمنځ او که تر اوږو پوري؟ حال دا چي د هر یوه لپاره د پیغمبر علیه السلام په عمل استناد شوی. خو پدې خبري نه فکر کوي او نه بحث چي د دې حرکت اصلي مقصد څه دی؟ محرك ئې څه او باید د کوم احساس او شعور مظهر وي؟

# قیـام

آیا ستا په ژوند کې کله داسې واقع شوې چې د کوم ستر واکمن دربار ته حاضر شوی یې؟ داسې واکمن چې گمان دې کولو ته ده ته اړ یې او هغه ستا د احتیاجاتو په رفع کولو او ستا د غوښتنو په ترسره کولو قادر وو او تا غوښتل چې د هغه په وړاندې د خپل اخلاص، منني او اطاعت مراتب څرگند کړې؟ ما ته رښتیا ووایه چې پدې وخت کې ستا د ودرېدو کیفیت، د وینا څرنگوالی، د احساساتو مظاهره، څنگه او له کوم احساس او شعور سره توأم او یوځای وو؟

د الله په وړاندې په لمانځه کې ستا د قیام حالت، ستا د وینا، مشاعرو او احساساتو کیفیت، باید تر هغه ډېر ډېر تفاوت ولري.

لاس په نامه ودرېدل، په حقیقت کې د کامل اطاعت او منني او د خپل آقا اوامرو ته د انقیاد نښه ده. ته پدې حرکت سره ښیې چې د الله جل جلاله مطیع بنده او د هغه د هر امر ترسره کولو ته چمتو یې.

آیا ستا په ژوند کې کله داسې هم واقع شوې چې تا په لمانځه کې د قیام په وخت کې داسې انگېرلې وي چې ته اوس اوس د ځمکې او آسمانونو د ستر مالك الملك رب په وړاندې ولاړ یې؟ داسې چې ته ئې په خپلو سترگو گورې، او که داسې نه وي او ته لاتر اوسه په روحي او معنوي لحاظ دومره لوړ او اوچت نه یې تللی نو لږ تر لږه دا احساس کوې چې الله جل شأنه

همدا اوس اوس تا ته ګوري او ستا هر حرکت ويني او هره خبره دي اوري. که کومه ورځ، په کوم لمانځه کې، تا ته په خپل قيام کې همدا حالت راپيدا شوی وي همدا او فقط همدا ستا واقعي لمونځ وو. خو که تر اوسه هيڅکله داسي نه وي شوي، نو زه تا ته وايم چې تا لاتراوسه لمونځ ندئ کړی، له دې وروسته تصميم ونيسه چې واقعي لمونځ وکړې.

آيا په کوم لمانځه کې له دې کبله ستا زړه لړزېدلی او له وېرې او هيبت ستا وېښتان زيږه شوي چې فکر دي کړی وي د رب العالمين، قهار او جبار الله تعالی په وړاندي ولاړ يې؟ که داسي نه وي شوي نو تا تر اوسه واقعي لمونځ ندئ کړی، ځکه الله جل شأنه فرمايي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ * الانفال: ٢

مؤمنان فقط هغه دي چې کله د الله يادونه وشي زړونه ئې پوړېږي او چې کله د ده آيتونه وربانديي تلاوت شي ايمان ئې زياتېږي او په خپل رب توکل کوي.

آيا کله دي د خپلو ګناهونو او قصور او يا د بخښونکي رحمان خدای جل شأنه د وسيع پېرزوينو او رحمت په رايادولو سره له سترګو اوښکې بهېدلې؟ او آيا کله داسي شوي چې د سخت اضطراب او پرېشانۍ په حالت کې، ته لمانځه ته پورته شوی يې او په همدې لمانځه سره ستا ټوله پرېشاني رفع شوې او شديد اضطراب دي په سخت ډاډ، سکون او اطمئنان بدل شوی وي؟

که داسي نه وي شوي نو ښايي ستا لمونځ، لمونځ نه بلکې يو عادت وو،

دا ځکه چي الله جل شأنه فرمايي:

أَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ

پام چي د الله په يادولو سره زړونه ډاډه کېږي.

# تسبیح

د قیام په پیل کې له الله جل شأنه سره ستا خبرې پدغو الفاظو شروع کېږي:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَی جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَیْرُكَ*

رواه مسلم و الترمذی

اې بارئ ربه! سپېڅلتیا تا ته ده او ستاینې تا ته دي، ستا نوم مبارك دئ او ستا شأن لوړ دئ، او له تا پرته بل معبود نشته.

پدغو مختصرو کلمو کې هومره عظمت او دومره وسیع مطالب پراته دي چې په نورو الفاظو د هغوی بیانول ډېر گران دي، یعنې:

ای زما ربه! ته په خپل ذات، صفاتو او افعالو کې له هر عیب او نقص منزه او پاك یې. تا چې څه پیدا کړي، ته چې څنگه د دې عالم پالنه، ساتنه او روزنه کوې، ستا په اراده او ستا د سننو مطابق چې پدې هستي کې څه کېږي، څه له نیست هست کېږي، څه د کمال په لوري درومي او څه په زوال محکومېږي...؟ پدې ټولو کې نه یوازې دا چې د عیب او نقص هېڅ نښه نه گورو، بلکې په هرڅه کې خاص حکمت او مصلحت گورو، پدې ټولو کې ته د هغو ستاینو وړ یې چې ستاله شأن سره ښایي، برکتونه ټول ستا له مبارك نامه سره تړلي او د خیر او برکت هره دړه یوازې ستا په نامه خلاصېږي. ستا لویي او شأن ډېر ډېر اوچت دئ. له تا پرته بل داسې څوك په ټوله هستي کې نه گورو چې د عبادت وړ وي.

# تعوذ او تسمیه

له تسبیح وروسته ستا بعدي وینا دا ده:

اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیم

له رټل شوي شیطان الله ته پناه وړم.

له شیطان الله ته د پناه وړلو معنی یوازي دا نده چې ته غواړې د شیطان له وسوسو او لدې چې ستا په زړه او دماغ مسلط شي، په تا کې غلط عزائم راولاړ کړي، د گناه په لوري دي وهڅوي او احساسات او مشاعر دي ناولي کړي، الله جل شأنه تا په خپله پناه کې وساتي او د هغه له شر دي وژغوري، بلکې د دې معنی دا هم ده چې ته د دغو الفاظو په ویلو سره له ټولو هغو کړنو او عملونو الله تعالی ته پناه وړې چې له کبله ئې شیطان د الله له رحمت ورټل شو او په لعنت اخته شو، چې ستر ستر ئې دا دي:

- شیطان کبر وکړ، ځان ئې تر بل اوچت وگڼلو، وئې ویل: زه په اصل کې تر هغه بل غوره یم، زه له اور پیدا شوی یم او هغه له خاوري. پرنورو د لویي غوښتنه ئې وکړه، کله چې د زمکې د خلافت مقام لده پرته بل ته ورکړی شو نو لوړه ئې وکړه چې هرو مرو به د ده د بې لاري کولو او په خپلې ورکړی شوې وظیفې کې د ناکامولو لپاره په هر قدم کې هغه ته کمین نیسم او له هري خوا به پرې حملې کوم، د دې لپاره چې ثابته کړي دی د نوموړي مقام لپاره تر آدم علیه السلام وړ او شایسته وو.

• له جنت ئې د آدم علیه السلام د ایستلو هڅه پیل کړه، د دې لپاره ئې د دوکې او غولولو او په دروغو د لوړي او قسم کولو لار غوره کړه، د دوستۍ په جامه کې ئې له آدم سره دښمني وکړه، د آدم علیه السلام او د ده د اولاد د بربنډولو او د عریانۍ لوري ته د بېولو سعي ئې وکړه او هغه هم په دوی د حرامي مېوې او د حرام رزق د خوړلو له لاري، ځکه هغه پوهېدو چې د انسان د بربنډېدو، سپکېدو او لوځېدو، لویه وجه په حلال او جائز رزق عدم اکتفاء او حرام رزق ته لاس اچول دي.

خو که ته د همدې جملې په ویلو سره، هره ورځ په وار وار له رټل شوي شیطان الله ته پناه وړې، خو عملاً گام په گام د شیطان په پله پل ږدې او ټول هغه کارونه کوې چې د هغه له کبله شیطان د الله جل شأنه له رحمت رټل شوی، پدې صورت کې ته یا دروغ وایې او یا پدې نه پوهېږې چې ستا د دغو الفاظو معنی څه ده؟

بیا ته بِسّمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ وایې، یعنی:

د هغه الله په نامه پیل کوم چې ډېر رحم کوونکی او د ډېري پېرزویني خاوند دئ.

یعني د رحمان او رحیم رب د پراخ رحمت په هیله لمونځ کوې.

# فاتحه

وروسته د فاتحې سوره چې د ټول عظیم الشأن قرآن خلاصه ده او د قرآن ټول مطالب په موجزه توګه په همدې مختصرې سورې کې راغلي، لولې:

الْحَمْدُ للّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ * مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ * إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ * اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ * صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ * الفاتحه: ۱- ۷

ټولې ستاینې د عالمونو رب الله لره دي. همغه ډېر مهربان رحم کوونکی. د بدلې د ورځې ټولواک. یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو. په سمې لار مو هدایت کړې. د هغو کسانو په لار چې تا پرې پېرزوینه کړې. نه غضب پرې شوی او نه بې لارې دي.

د فاتحې په پای کې وایي: آمین: بارئ ربه! دعاء مو قبوله کړې.

د فاتحې د سورې په دغو مختصرو اوو آیتونو سره تا په لاندنیو مهمو مطالبو اعتراف کړی:

ټولې ستاینې هغه الله ته دي چې د عالمونو پالونکی او ساتونکی دئ، چې زه پدې خور عالم کې هرې خوا ته د ده د ربوبیت، پالنې او روزنې څرګند مظاهر او نښې ګورم، زه چې د دې هستۍ هرې خوا ته مخ واړوم، ګورم چې هر څه له هیڅ پیل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لورې وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخري پوړ ته ورسول شي، یو ضروري او

لازم کار وربانديي ترسره شي، يو ضرورت وربانديي رفع کړی شي، يوه خلأ او تشه پرې ډکه کړی شي، بيا ئې زوال پيل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل ته خالي کړی شي. دا کار هره شېبه، هري خوا ته تکرارېږي، ما ته د دې مظاهرو تر شا د ربوبيت او پالني يو نامرئي او ناڅرګند لاس په نظر راځي، هماغه زما الله دئ او د دې هستي الله دئ، زه نه يوازي پدې عالم کي د روزني او پالني يو نامرئي لاس احساسوم بلکي ګورم چي د هرڅه پيدايښت، پالنه، روزنه او ساتنه په ډېر دقت سره ترسره کېږي. د دې عالم په هر جزء او د هرجزء په حرکت او خوځښت کي زه ښايست، ښکلا، کمال او هدفمني ګورم. خوشی، بې مقصده، اضافي او غيرضروري شی مي په نظر نه راځي. زما هري خوا ته خواره شيان، هر يو بېل بېل او ټول په ګډه، د خاص مقصد لپاره په کار لګيا دي، د ټولو ترمنځ د نظم، يووالي او ژور تنسيق شاهد يم. د دې عالم همدا ملموس او مشهود کيفيت، زما په ژبه د دې الفاظو د جاري کېدو لامل دئ چي:

ټولي ستايني د عالمونو رب الله ته دي.

همدا راز زه پدې هستۍ کي د رحمت او پېرزويني څرګندي نښي او واضح مظاهرګورم: ماشوم لا دنيا ته نه وي راغلی او د خپلي مور په ګېډي کي وي خو د ده ټول حياتي ضروريات، د خوندورو شيدو په بڼې کي د مور په ټي کي مخکي له مخکي ورته تياري کړی شوې وي او د مور پلار په زړه کي ئې هومره مينه ورته ځای په ځای شوې وي چي د ده لپاره هر کړاو زغمي، دغه ماشوم ته د ده تر احتياج وړاندي څوك روزي برابروي؟ د ده د مور، پلار په زړه کي دا مينه چا اچولې؟ دا څوك دئ چي د انسان، حيوان

او نبات هر ضرورت ته ځواب وايي؟ د رڼا، تودوخي، اوبو او هوا انتظام ورته کوي؟ د څښاك اوبه ئې له استعمال وروسته يا د نهرونو له لاري د لويو لويو بحرونو په لور وخوځېږي، تروې او تيزابي شي او يا په زمکه کي ننوځي او انسان ته ئې هم له زمکي رااېستل ګران شي او هم ئې له بحرونو بېرته راوړل محال شي، خو ګورو چي د لمر د وړانګو په ذريعه د بحرونو همدا تروې او تيزابي اوبه تبخير او تصفيه شي، دا بخارات د بادونو په ذريعه د آسمان په لوري اوچت کړی شي، هلته د سړې هوا له کبله په ورېځو بدل شي، مؤظف بادونه دا ورېځي په سر واخلي، ناڅاپي ووېشل شي، هر يو، خپله برخه، په خپل خاص سمت، خاصي منطقې ته د رسولو لپاره وخوځوي، په ښېديا او د آواري په محتاجو او باران ته سترګي په لار خلکو باندي باران ووروي او په غرونو باندي واوري. ترڅو د دنګو دنګو غرونو په ژورو او پراخو لمنو کي د واوري کافي ذخيره د دوبي لپاره خوندي وساتي او بيا د دوبي په سختي ګرمۍ کي چي انسان، حيوان او نبات اوبو ته سخت اړ وي، همدا ذخيره شوې واوره ورو ورو ويلي شي او په نهرونو، کاريزونو او چينو کي د دوی د خړوبولو لپاره وخوځېږي او د هر يوه ضرورت رفع کړي. ټولي ستايني هغه رب لره دي چي پدې عالم کي د ده د بې انتهاء رحمت او پېرزويني وسيع آثار او نښي هري خوا ته خورې ګورم.

همدا راز زه پدې عالم کي د يوه داسي ټولواك ذات د واکمنۍ آثار په ښرګنده توګه ګورم چي د هر څه ساتنه کوي، هرڅه د ده په وړاندي منقاد دي. ده چي د هرڅه د پيدايښت، خوځښت، کمال او زوال لپاره کوم مسير او حد ټاکلی، له يوې ذرې انحراف او تغيير پرته په هماغه مسير کي درومي.

ځمکه هره ورځ په خپل وخت له خاص ځای راپورته کېږي، زمکي ته رڼا او تودوخه ورکوي او بیا په ثابت وخت کي په ثابت ځای کي پرېوځي.

د آسمان پدې پراخي او بې انتهاء غېږي کي په ملیونو ملیونو ستوري، هریو په خپل مدار کي خوځېږي، د دوی ترمنځ د ټکر او تصادم مخنیوی کېږي، نه یو د بل په مدار کي داخلېږي او نه یو بل جذبوي.

د دې هستي هرڅه د هستي د ساتونکي (مالك) خدای هغو سننو ته غاړه اېښې ده چي ده وضع کړي. لکه چي قرآن فرمایي:

أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ * آل عمران: ۸۳

آیا د الله له دین پرته (بل دین) لټوي په داسي حال کي چي د آسمانونو او زمکي هرڅه، طوعا اوکرها، ( په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه اېښې او د ده لوري ته ګرځول کېږي.

هره ستاینه همغه الله ته ده چي پدې عالم کي د مالك الملك په توګه تصرف کوي او هرڅه د ده د واکمني ته منقاد دي. په همدې حالت کي او له مخکنیو آیتونو د راولاړ شوي احساس او شعور له کبله ته له خپل رب سره په یوې ډېري ستري خبري تعهد کوې او وایې:

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ *

یوازي ستا عبادت کوو او یوازي له تا مرسته غواړو.

د عبادت معنی مرییتوب دئ او ته پوهېږې چي مریی هغه چاته ویل کېږي چي:

• په بل خرڅ شوی وي او خپل واك ئې په کامله توګه هغه ته سپارلی

وي.

- د ده په واك کې چې څه وي هغه د ده نه بلکې د ده د آقا او مالك وي.
- هېڅ کار په خپله خوښه او د خپلې مرضۍ مطابق نشي کولی، يوازې هماغه څه کوي چې خپل آقا ورته امر کړی وي.
- په خپلو ټولو کړو وړو کې د خپل مالك او بادار رضاء لټوي، د خپلې رضاء لپاره هيڅ نه شي کولی.
- مريی نه شخصي دوست لري او نه دښمن، د آقا دوست ئې دوست او دښمن ئې دښمن وي.

اوس ما ته ووايه: په رښتيا ته چې په لمانځه کې د الله په وړاندې لاس تړلی ودرېږې او همدغه کلمات تکراروې؛ آيا کله دې د دې تعهد او ژمنې معنی او مقتضی ته توجه کړې؟ او دې ته دې پام شوی چې پدې سره تا د خپل رب په وړاندې د کومو کومو سترو خبرو تعهدکړی؟ او آيا پدې تعهداتو دې وفا هم کړې؟

که تا د الله په لار کې خپل ځان، وقت او مال سپمولی وي، خپل مال، نفس او اولاد دې د الله امانت نه وي ګڼلی او د الله په لار کې د هغوی له قربانۍ دې ډډه کړې وي، هر کار دې د خپلې هوی او هوس په حکم ترسره کړی وي، د هېڅ کار په پيل کې دې دې ته نه وي کتلي چې ستا رب تا ته پدې اړه څه حکم کړی، که تا د الله د سخط او غضب په بيع په وار وار د خپل نفس رضاء لټولې وي، که تا د خدای له دوستانو سره دښمني او له دښمنانو سره دوستي کړې وي، نو ستا دغه تعهد يو دروغجن تعهد وو،

ګواکي په وار وار دي له الله سره دروغجنه ژمنه کړې او هرځل دي خپله ژمنه ماته کړې، ته چي وایې: وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ معنی ئې دا ده: خدایه! یوازې او یوازې تا ته د احتیاج لاس اوږدوم، له تا پرته د بل چا ملن نه نیسم، بل ته طمع نه کوم، تا ځانته کافي ګڼم، عقیده مي دا ده چي هرڅه ستا په واك کي دي، ته د خپلو بندګانو پالنه او روزنه کوې او په هغوی بې انتهاء مهربانه یې، نو ځکه هرڅه فقط له تا غواړو.

پدې ترتیب ته په خپل لمانځه کي له خپل رب سره مکرر تعهد کوې چي: له تا پرته بل ته د عبادت او مرییتوب سر نه کوزوم او بل ته د سوال او غوښتني لاسونه نه اوږدوم.

خوکه له دې مکرر تعهد سره سره ستا طمع له خدای پرته بل چا او بل څه ته وه، مستعان خدای دي ځانته کافي نه ګڼلو او د خپلو حاجتونو ترسره کېدو لپاره دي د بل لمنه نیوله او ګمان دي کولو چي په ربوبیت او د هستي په پالني، روزني، ساتني او د مخلوقاتو د حوائجو او اړتیاوو په پوره کولو کي خدای ځانته شریکان لري او دا شریکان یا په خپله ستا دعاء ته ځواب وایي او یا ئې په خدای هرو مرو مني، نو ته ما ته ووایه چي ستا د إِيَّاك نَستَعِينُ د ویلو معنی څه شوه؟

ښایي پدې پوهېږې چي د فاتحې سوره د ټول قرآن عظیم الشأن خلاصه ده، یا په بل عبارت ټول قرآن د همدې مبارکي سورې شرح او تفصیل دئ او د فاتحې سورې محوري او مرکزي مطلب همدا څلورم آیت، (إِيَّاك نَعْبُدُ وَ إِيَّاك نَستَعِينُ ) دئ، لدې معلومېږي چي د قرآن محوري او اساسي لارښوونه دا ده چي د انسان او د ده د رب ترمنځ همدا رابطه

ټینګه کړی شي چي عبادت ئې یوازي د ده لپاره وي او استعانت ئې یوازي له ده وي.

پدې ستري خبري له تعهد او ژمني وروسته ته خپله لومړنۍ غوښتنه او لومړی سؤال خپل مولا ته وړاندي کوي او وایي:

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ *

په دغي سمي لار مو هدایت کړه.

ستا د دغي دعاء معنی دا ده چي:

• ته په سمي لار د تلو تلوسه لرې او د همدې لپاره ستا لومړنۍ تمنا او دعاء همدا ده.

• ته یوازي د ځان لپاره نه؛ بلکي د نورو لپاره هم په سمي لار د تلو توفیق غواړې، ته پوهېږې چي یوازي ستا سموالی کفایت نه کوي، ته دې ته اړ یې چي په سمي لار د تلو لپاره د یوه صالح ټولګي په خوا کي حرکت وکړې. همدا راز له نورو انسانانو سره ستا مینه او پېرزوینه تا هڅوي چي د ځان په څنګ کي هغوی هم په خپلو دعاګانو کي رایاد کړې.

• له سمي لاري ستا مراد هماغه په څلورم آیت کي ذکر شوی مطلب دئ، یعنی یوازي د الله عبادت او یوازي له هغه استعانت.

• تا په یوې داسي مستقیمي لاري د تلو توفیق غوښتی چي مخامخ دي خدای ته رسوي، یوې خوا بلي خوا ته کږېدل په کي نشته. که تا یوازي دومره ویلي وی چي موږ هدایت کړه، معنی به ئې دا وه چي تا ته د سم فکر، صحیح نظریې او علمي رأیي ښوونه وشي. خو تا ویلي دي چي موږ په مستقیمي لاري هدایت کړه! په یوې لاري تګ د نظر او رأیي ترڅنګ؛

عزم، عمل او حرکت او د سرمنزل او هدف ټاکل غواړي، حال دا چي رأیه او نظریه یوازي د ذهني اقناع غوښتنه کوي، ستا پدې دعاء کي د رأيي سموالی، د هدف سپېڅلتیا، د عزم صحت، او د حرکت د جهت او سمت استقامت او سموالی شامل دي.

له ځان سره لږ فکر وکړه او قضاوت وکړه چي ته هره ورځ په وار وار د هدایت او لارښووني تمنا کوې او له الله جل شأنه په خپل لمانځه کي په سمي لاري د تلو توفیق غواړې، خو که له لمانځه وروسته او مخکي؛ نه تا د سمي لاري د پېژندلو هڅه کړې او نه پدې لار دتلو تکل!! نو لدې دعاء ستا مقصد څه دئ؟

ته چي د سهار له لمانځه فارغ شې او د ورځني کار لپاره منصوبې جوړوې، نو نیت دي کوږ وي، عزائم دي ناولي، د مال، عزت او اقتدار ترلاسه کولو لپاره کږې وږې لاري لټوې. سمه مستقیمه الهي لار پرېږدې او د شیطان په کږو وږو لارو روان شې. پدې صورت کي به څوك له تا دا دروغجنه ادعاء ومني چي تا په خپل لمانځه کي له خدای په مستقیمي لاري د تلو تمنا او دعاء کړې وه؟

ستا د دغي دعاء ترځنگ او ورپسې الله جل شأنه هغه غوښتلې مستقیمه لار داسي توضیح کړې: د هغو کسانو لار چي تا وربانديي پیروینی کړې او په هغي لاري د تلو په نتیجه کي ئې ستا نعمتونه په برخه شوي.

یعني دا لار یوازي یو فکري خط، یا یو مجرد ذهني او اعتقادي بهیر او سلسله نه ده چي فقط د اعتقاد او باور غوښتنه کوي او بس، بلکي دا د عمل لپاره ترسیم شوی مستقیم خط دئ، دا پلې شوې لار ده، د تاریخ په

اوږدو کې په وار وار د الله صالح بندګان پدې لار تللي او د مستعان لارښوونکي رب نعمتونه ئې په برخه شوي، عزت او سرلوړي ته رسېدلي، د ځمکې خلافت، د ولسونو فکري، اخلاقي، سیاسی او اجتماعي قیادت او مشري او د ځمکې د ټولو شتمنیو وراثت ورسپارل شوي.

قرآن موږ ته پدې لار تلونکي او د الله د پېرزوینو او انعاماتو لاس ته راوړونکي داسې معرفي کوي.

وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا * النساء: ٦٩

او څوک چې د الله او پیغمبر اطاعت وکړي نو دوی به له هغو کسانو سره وي چې الله ورباندې پېرزوینه کړې، د پیغمبرانو، رښتینو، شهیدانو او صالحانو سره، او دا خلك څومره غوره ملګري دي.

ته په دغې تمنا سره غواړې چې د پیغمبرانو ملګرتیا دې په برخه شي، په خپل ایمان او له الله جل شأنه سره په خپلو کړو ژمنو او وعدو کې صادق او رښتینی شې او د الله په لار کې هره شېبه شهادت ته چمتو وې او تل د ځان او ټولني د اصلاح او رغوني په چارو کې بوخت وې. خو ما ته ووایه:

- آیا کله دې د دې دعاء معنی او ابعادو ته توجه کړې؟ د پیغمبرانو، صادقانو، شهداوو او صالحینو د ملګرتیا او د دوی په لار د تلو عزم او اراده دې کړې؟
- آیا د الله جل جلاله په لار کې د شهادت جذبه او ولوله دې په زړه کې راولاړه شوې؟ ستا د دغې دعاء معنی خو همدا ده چې ته د الله په لار کې د شهادت تلوسه لرې او له الله د شهداوو په لار د تلو توفیق غواړې!؟

ته ښايي پدې هم پوهېږې چي د شهادت جذبه د هغه چا په زړه کي مري او له مرګ وېره او خوف ئې په زړه کي راپيدا کېږي چي:

- يا ئې په خداى ايمان نه وي او يا د الله جل شأنه په ربوبيت باور نه لري.
- په اجل او د مرګ په معيني له مخکي ټاکل شوې نېټې عقيده نه لري.
- پدې خبري ايمان نه لري چي مرګ په خپل ثابت ليکل شوي وخت، د الله جل جلاله په اذن او حکم سره راځي او د انسان روح يوازي د مؤظف او موکل فرشتې په ذريعه قبضېږي.
- او پدې نه پوهېږي چي مرګ د نوي ژوندون پيل دئ.

ته د فاتحې په آخري برخي کي له هغو کسانو محسوب کېدو امان غواړې چي د الله جل جلاله غضب ورباندي نازل شوى او ګمراهان دي. دا غضب کړى شوي کسان يا هغه دي چي له ايمان راوړلو وروسته ئې داسي څه کړي چي د الله جل جلاله په غضب اخته شوي او اصلي لاره ئې ورکه کړې او يا هغه دي چي منعم الله تعالى په ظاهر کي دوى ته ښه ډېر انعامات ورکړي او يا د دوى ظاهري وضعيت يا ادعا داسي ده چي ګواکي په سمه لاره روان دي، خو په حقيقت کي د الله جل جلاله په غضب اخته او سخت بې لاري دي.

# د الله جل جلاله د اسماوو لنډه پېژندنه

د فاتحې د سورې په لومړيو دريو آيتونو کې د الله تعالی دريو صفاتو (رب، رحمن او مالك) ته اشاره شوې، لکه څنګه چې د فاتحې سوره د ټول قرآن خلاصه ده، همداسي په دغو دريو صفاتو کې د الله تعالی ټول نومونه خلاصه شوي، په يوه روايت کې د الله تعالی ۹۹ نومونه په ګوته شوي، چې هر يو ئې د الله يو صفت معرفي کوي. پورتني درې نومونه د الله تعالی ټول نومونه په دې توګه احتوی کوي:

- د رب نوم په ټولو هغو نومونو او صفاتو شامل دئ چې د پيدايښت له صفت سره تعلق لري، لکه خالق، بارئ، مصور.
- د رحمن نوم په ټولو هغو نومونو او صفاتو احتوی کړې چې د پېرزويني او رحمت له صفاتو سره اړخ لګوي، لکه غفور، کريم، عفو، حليم.
- او د مالك نوم ټول هغه صفات او نومونه احتوی کوي چې له پاچايي، ټولواکي او اقتدار سره تعلق لري لکه قهار، جبار، عزيز، قدير، غالب، مؤمن، مهيمن...)

يعنی لکه څنګه چې د فاتحې سوره د ټول قرآن خلاصه ده، د الله دغه درې نومونه چې د فاتحې د سورې په لومړنيو دريو آيتونو کې راغلي د الله د ټولو نومونو خلاصه ده.

که تا د فاتحې د سورې آيتونو ته په دقت سره پام کړی وي نو حتماً

به دې ته متوجه شوی وې چې د هغو صفاتو په مقابل کې چې په لومړنیو آیتونو کې راغلي:

الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ١
الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ٢
مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ٣

د وروستیو آیتونو مطالب په دې شکل راغلي:

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ٤
اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ٥
صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ٦
غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ٧

نوموړی ترتیب دا مطالب په ګوته کوي:

- یوازې هغه الله د عبادت وړ دئ چې ستاینې ټولې هغه لره دي.
- یوازې له هغه څخه باید مرسته وغوښتل شي چې د عالمونو پالونکی او روزونکی رب دئ.
- باید له رحمان خدای جل شأنه د هدایت او لارښوونې تمنا وشي نه له بل څخه.
- باید الرحیم رب ته دانعاماتو او پېرزوینو دعاء وشي نه بلې مرجع ته.
- باید د مالك الملك رب له غضب ووېرېږو چې د دنیا او عقبا مالك دئ، نه د بل چا له قهر او غصې.
- او بایدیوازې لدې په اندېښنه کې وو چې د قیامت په ورځ د همدې

مالك الملك الله جل شأنه په وړاندي د ګمراهانو په ډله کې ونه دریږو.

# قرائت

د فاتحې د سورې له لوستلو وروسته ته باید په ځینو رکعتونو کې د قرآن یوه بله برخه هم تلاوت کړې، اندازه ئې ستا په همت او ستا په حالت پوري مربوطه ده، د مضمون انتخاب ستا فهم، ستا روحي کیفیت او ستا اجتماعي خاص وضعیت ته پرېښودل شوی، ته د ځان او د خپلې ټولنې د هر خاص حالت لپاره په قرآن کې داسې ځانګړې او خاصه برخه او مضمون موندلی شې چې پدې حالت کې ستا او ستا د رب ترمنځ په همدغو الفاظو راز او نیاز تر هر راز نورو کلماتو موزون او مناسب وي او ستا لپاره ترټولو غوره لارښوونه وي، باید پدې پوه وې چې ستا د لمانځه یوه ډېره مهمه برخه همدا د قرآن تلاوت دئ، هرڅومره چې د قرآن تلاوت زیات کړې ثواب به دې زیات وي. البته دا باید په پام کې ولرو چې د جَمعي په لمانځه کې به د نورو لمونځ کوونکو او د وخت او د حالت مراعات کوو.

د قرآن له تلاوت د زیات خوند اخیستو او د قرآن په مفاهیمو او اسرارو د ښه پوهېدو ډېر ښه حالت او وقت همدا په لمانځه کې د قیام حالت دئ.

# رکوع

یو له هغو مهمو حرکاتو چي په لمانځه کي ئې ترسره کول فرض دي او له هغه پرته لمونځ نه صحیح کېږي، رکوع ده.

رکوع په اصل کي د چا په عظمت او لويي د اعتراف لپاره د هغه په وړاندي سرټيټول دي. تاسو د انساني ټولني په اکثرو پړګنو کي ګورئ چي د خپلو لويانو، واکمنانو، مشرانو او مذهبي پيشوايانو احترام او تعظيم د سر په ټيټولو يا انحناء او رکوع سره پرځای کوي.

خو ستا لمونځ تا ته ښيي چي دا حرکت به يوازي الله ته کوې، له الله پرته بل هيچا ته سرټيټول جائز نه دي. هېڅ انسان حق نلري چي بل ترځان ټيټ وګڼي او له هغه په خپل عظمت او لويي د اعتراف لپاره د انحناء او سرټيټولو توقع وکړي. هېڅ انسان ته نه ښايي چي له بل ځان حقير او سپک وګڼي او د هغه په وړاندي د خپل حقارت او ذلت د ځرګندوني لپاره هغه ته انحناء وکړي، دا حرکت د الله د لمانځني او عبادت له شعائرو دئ، بل ته ئې په ځای کول جواز نه لري.

اسلام انسانانو ته د برابرۍ درس ورکوي او هغوی ته وايي چي ټول به يوځای فقط خپل رب ته رکوع کوئ.

ته د الله اکبر په ويلو سره له قيام رکوع ته درومې او په رکوع کي خپل رب ته ستا وينا دا ده:

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ.

پاکي زما ستر رب ته ده.

له پیغمبر علیه السلام د فرض یا نفل لمونځونو په رکوع کې رانقل شوي ځیني تسبیحات دا دي:

سُبْحَانَ ذِی المُلك و الملكُوت

پاکي ده د ملك او واکمنۍ خاوند ته

سُبْحَانَ ذِی العِزةِ و العَظَمَةِ وَ القُدرَةِ وَ الكِبرياءِ وَ الجبروت.

پاکي ده د عزت، لویي، قدرت، ستروالي او جبروت خاوند ته.

سُبْحَانَ المَلكِ الحَی الذی لاینام و لایموت.

پاکی ده هغه تل پاته ټولواك ته چې نه خوب کوي او نه مري.

سُبّوحٌ قُدّوسٌ ربنا و رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ

ډېر پاك، ډېر مقدس، زموږ او ملائکو او د جبرئیل رب.

لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ

له ستر او حلیم اللّٰه پرته بل معبود نشته.

لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ

د ستر عرش له پالونکي رب پرته بل معبود نشته.

لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ

نشته بل اللّٰه مگر د آسمانونو رب، د ځمکي رب او د عزتمن عرش رب.

اللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعت

اې بارئ ربه! تا ته مي رکوع وکړه.

وَبِكَ آمَنْتُ

او په تا مي ایمان راوړ.

وَلَكَ أَسْلَمْتُ
او تا ته تسليم شوم.
خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي وَمُخِّي وَعَظْمِي وَعَصَبِي:
تا ته مي غوږونه، سترګي، ما غزه، هډوکي او اعصاب، ټول خاشع او منقاد شول.

پدې ټولو تسبيحاتو کي ګورئ چي د رکوع د عملي حرکت په شان د الله په عظمت، لويي او ټولواکي باندي د اعتراف کلمات راغلي.

د دې لپاره چي پوره ډاډه شې چي په رکوع کي ستا ټول هغه کلمات چي د زړه له کومي دي راولاړ شوي او په ژبه دي جاري شوي، سميع خدای جل شأنه اورېدلي او دا تشويش دي رفع وي چي ستا په شان د يوه وړوکي مخلوق خفي او ټيټ غږ به څنګه د زمکي له سر د عرش په لوري اوچت درومي او الله به ئې اوري! د همدې لپاره تا ته ويل شوي چي له رکوع د قومې په طرف د پورته کېدو په وخت کي به وايې:
سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فيه *
الله له هغه چا اورېدنه وکړه چي د ده ستاينه ئې وکړه، اې زموږ ربه! ستاينه خو تا ته ده، ډېره پاکه ستاينه چي مبارکوالی پکي دئ.

په قومه کي د پيغمبر عليه السلام ډېر نور تسبيحات هم روايت شوي چي ځيني ئې دا دي:

يَا رَبِّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلاَلِ وَجْهِكَ وَعَظِيمِ سُلْطَانِكَ.
رواه احمد و ابن ماجه

اې زما ربه! تا ته هماغسي ستاينه ده چي ستا د ذات له جلال سره او ستا د تولواکۍ له ستروالي سره وړ وي.

او په وار وار به ئې ویل چي:

لِرَبِّيَ الْحَمْدُ لِرَبِّيَ الْحَمْدُ لِرَبِّيَ الْحَمْدُ

ستاينه زما رب ته ده، ستاينه زما رب ته ده، ستاينه زما رب ته ده.

اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ متفق عليه

ای بارئ ربه! ته چي څه ورکړې هیڅوك ئې مخنیوی نشي کولی او ته چي څه وسپموې هیڅوك ئې ورکولی نشي، له تا د لويي يا هاند خاوند ته د ده لويي او هڅه هيڅ ګټه نشي رسولی.

# سجـده

بل حرکت چي په لمانځه کې فـرض دئ سـجده يعنـی تنـدی پـر زمکـه ایښودل دي.

آیا تا په خپل ژوند کې داسي کوم مضطر، مجبور او سخت محتاج کـس لیدلی چي د ډېري پرېشانۍ او بې وزلۍ له کبله د بل پښوته لوېـدلی وي او هغه ته استغاثه کوي او په الحاح سره مرسته ترې غواړي؟

آیا تا کله داسي کوم کس لیدلی چي لوی جرم ئـې کـړی وي او د داسي چا په وړاندي لاس تړلی ولاړ وي چي هم ئې عفو کولی شي او هم مجـازات او د ده د ترحم ترلاسه کولو پرته بله هېڅ چاره نلري، نو پښو ته ئې په وار وار لوېږي، عـذر او زارۍ کـوي، هرځـل پـدې هیلـه سر راپورتـه کـوي چـي وګوري د ده عذر منل شوی که نه؟ او سؤال ئې قبول شوی که نـه؟ سـجده همداسي یو حرکت دئ. سجده په حقیقت کې داسي ده لکه د الله پښـو تـه لوېدل، (دې ته په پام سره چي الله تعالی له غړو او جوارحو منزه دئ)

پیغمبر علیه السلام فرمایي: انسان د سجدې په حالت کی الله جل شأنه ته ډېر نږدې وي، نو دعاګاني مو په کې زیاتي کړئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ رواه مسلم

بنده د سجدې په حال کی تر بل هر وخت خپل رب ته زیات نږدې وي، نو

په سجدې کې خپلې دعاګانې زیاتې کړئ.

د لمونځو په سجدو کې چې له پیغمبر علیه السلام کوم تسبیحات او دعاګانې روایت شوې، ځینې ئې دا دي:

سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَىٰ

پاکي ده زما عالي شأن رب ته.

اللّٰهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ * رواه مسلم

اې بارئ ربه! ستا له غضبه ستا رضاء ته پناه وړم، او له عذابه دې عافیت ته، او له تا تا ته پناه دروړم، په تا د ثنا ویلو له احاطې عاجز یم، ته هماغسې یې چې ځان دې ستایلی .

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لا اله الا انت. رواه مسلم

پاکي او ستاینه تا ته ده، له تا پرته بل معبود نشته

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي * متفق علیه

بارئ ربه! تا ته پاکي ده او ستاینې دي، مولا خدایه! ما ته بخښنه وکړه.

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ* رواه مسلم

اې بارئ ربه! ټول ګناهونه مې راته وبخښې، واړه او ستر ئې، پیل او پای ئې، پټ اوڅرګند ئې.

اللّٰهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ * رواه مسلم

اې بارئ خدایه! تا ته مې سجده وکړه، په تا مې ایمان راوړ، تا ته تسلیم

شوم، مخ مي هغه چا ته سجده وکړه چې پیدا کړی ئې دئ او صورت او شکل ئې ورکړی او غوږ او سترګې ئې ورپرانیستلې، مبارك دئ الله ترټولو غوره پیداکوونکی.

د احنافو او نورو مذاهبو تر منځ د سجدې د دعاګانو په اړه یوازې دومره اختلاف شته چې احناف په فرائضو کې یوازې له پیغمبرعلیه السلام روایت شوې دعاګانې غوره ګڼي او په نوافلوکې د قرآن له آیتونو پرته هره دعاء، خو نور مذاهب په فرائضو کې هم د مأثوره دعاګانو شرط ضروري نه ګڼي.

د دوو سجدو ترمنځ دا دعاګانې له پیغمبرعلیه السلام روایت شوې:

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي    رواه ابوداؤد

اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړې، پر مارحم وکړې، ماهدایت کړې، عافیت مې په برخه کړې او ما ته رزق راکړې.

او په وار وار به ئې دا دعاء کوله:

رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي ...  رواه الترمذی

اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړې، اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړې، اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړې.

پیغمبرعلیه السلام به کله کله په جلسې کې هومره ځنډ وکړ چې خلکو به ګمان وکړ چې ښایي دوهمه سجده ئې هېره کړې وي.

# قعـده

د لمانځه په آخري برخي کې ته د یوه ډېر مضطر او محتـاج بنـده پـه څېر کښېني، داسي چي زنګنونه په زمکه، لاس په زنګنـو، سر پـه ګرېـوان او په ډېر عجز او نیاز خپل رب تـه د خپلـو عرائضـو وړانـدي کـول داسي پیـل کوي:

التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ * متفق علیه

ستاینې، لمانځني او پاکوني ټولي اللّٰه ته دي. په تا دي اې پیغمبره سلامونه وي او د اللّٰه رحمت او برکتونه، په موږ او د اللّٰه په ټولو صالح بندګانو دي سلام وي، شهادت ورکوم چي له اللّٰه پرته بل اله نشته او شهادت ورکوم چي محمد علیه السلام د ده بنده او استاځی دئ.

وروسته وایي:

اللّٰهُم صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ * اللّٰهُم بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ * رواه البخاری

اې باریٔ ربه! زموږ په سالار محمد علیه السلام او د ده په آل (نسبي او دیني ټبر) داسي درود ولېږې لکه چي په ابرهیم علیه السلام او د ده په ټبر دي لېږلی وو، بېشکه چي ته ستایل شوی د لویي خاوند یې. اې باریٔ

خدایه! زموږ سالار محمد علیه السلام او د ده آل (نسبي او دیني ټبر) ته داسي برکتونه ورپه برخه کړې لکه چي ابراهیم علیه السلام او د ده ټبر ته دي په برخه کړي وو، بېشکه چي ته ستایل شوی د لویي څښتن یې.

له دې وروسته د لمانځـه ترپایـه سـتا د راز راز دعاګـانو او د دعاګـانو منونکي مولا ته د خپلو غوښتنو د وړاندي کولو ډېـر غـوره وخـت او حالـت دئ. ځانته، مور پلار ته، اولاد او خپلوانو ته، دسـنګر او ایمـان ملګـرو تـه او ټول اسلامي امت ته دعاء وکړه، د اسلام د غلبې، د شر او فساد د ځواکونـو د نابودۍ، د مظلومو مسلمانانو د ژغورنې، د اسلامي خلافت د قائمېدو او د اسلامي امت د تېر برم او عزت د بېرته اعادې لپـاره اوږدې اوږدې دعاګـاني وکړه.

متأسفانه ځیني لمونځ کوونکي نه پوهېږي چي د دعـاء د قبلېـدو ښـه وخت او ښه حالت کوم دئ؟ په قعده کي په پوره بې غورۍ او بـې اعتنـائي سره څو لنډ الفاظ تکرار کړي، او ګمان کـوي چـي د دعـاء اصـلي وخـت لـه لمانځه د سلام ګرځولو وروسته دئ، د همـدې لپـاره پـه لمانځـه کي ډېـر بـې اعتناء وي او اذکار، تسبیحات، دعاګاني او د لمانځه ټول الفاظ ئـې د عـادت په څېر مفهوم ته له توجه پرته په ژبه راځي، خـو لـه توجـه او اعتنـاء سره توأم دعاء ئې له لمانځه وروسته وي!!

پدې حالت کي ځیني مأثوره دعاګاني دا دي:

عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِي الله عَنْه أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللّٰه صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي قَالَ قُلِ اللّٰهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّك أَنْتَ الْغَفُورُ

الرَّحِيمُ * متفق عليه

له ابوبکر رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې وويل: ما ته داسي دعاء راوښيه چي په لمانځه کي ئې وايم، وئې فرمايل: ووايه: اې زما مولا! بېشکه چي ما پر خپل ځان ډېر ظلمونه کړي، او له تا پرته بل هيڅوك گناهونه نشي بخښلی، زما مولا! ما ته په خپلي ستري بخښني سره بخښنه وکړه او په ما رحم وکړه، يقيناً چه ته بخښونکی مهربان يې.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ* رواه ابوداود

اې زما مولا! له غم او اندېښني تا ته پناه دروړم او له ناتوانۍ او کسالت پناه دروړم، او له بې زړه توب او بخل پناه دروړم، او د پور له غلبې او د خلکو له سلطې پناه دروړم.

رَبَّنَا اغْفِرْ لِى وَ لِوَلِدَى وَ لِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِساب* ابراهيم:٤١

بارئ ربه! ما ته بخښنه وکړې، زما مور پلار ته او مؤمنانو ته د حساب قائمېدو په ورځ.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ أَسْأَلُكَ أَلَّا تَدَعَ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً من حوائج الدنيا والآخرة إِلَّا قَضَيْتَهَا لِي يَا أَرحَمَ الرَاحمينَ *

اې زما مولا! ستا د رحمت د موجباتو غوښتنه درنه کوم او ستا د بخښني د عزائمو او له هري گناه د سلامتيا او د هري ښېگڼې لاس ته راوړنه. اې بارئ خدايه! هيڅ گناه مي له بخښني پرته مه پرېږده او هېڅ اندېښنه مي له

پای ته رسولو پرته او د دنیا او آخرت هېڅ حاجت مي له پوره کېدو پرته پرې نږدې، اې تر هرمهربان زیات مهربانه!

اللّٰهم رَبَّنَا ءَاتِنَا فِی الدُّنْيَا حَسنَةً وَ فِی الاَخِرَةِ حَسنَةً وَ قِنَا عَذَاب النَّارِ*

اې بارئ خدایه! په دنیا کې مو ښېگڼه په برخه کړې او په آخرت کې مو ښېگڼه په برخه کړې او د اور له عذاب مو وژغورې.

زه د پيغمبر عليه السلام د دوو خاصو دعاگانو وړاندیز کوم چې یوه ئې د طائف په هغه سخت سفر او غمجن حالت کې او بله ئې په عرفات کې کړې.

# دعرفات دعاء

اللّٰهُمَّ إِنَّكَ تَسْمَعُ كَلاَمِي، وَتَرَى مَكَانِي، وَتَعْلَمُ سِرِّي وَعَلاَنِيَتِي، لاَ يَخْفَى عَلَيْكَ شَيْءٌ مِنْ أَمْرِي، أَنَا الْبَائِسُ الْفَقِيرُ، الْمُسْتَغِيثُ الْمُسْتَجِيرُ، وَالْوَجِلُ الْمُشْفِقُ، الْمُقِرُّ الْمُعْتَرِفُ بِذَنْبِهِ، أَسْأَلُكَ مسألةَ الْمِسْكِينِ، وَأَبْتَهِلُ إِلَيْكَ ابْتِهَالَ الْمُذْنِبِ الذَّلِيلِ، وَأَدْعُوكَ دُعَاءَ الْخَائِفِ الْضَرِيرِ، مَنْ خَضَعَتْ لَكَ رَقَبَتُهُ، وَفَاضَتْ لَكَ عَبْرَتُهُ، وَذَلَّ لَكَ جِسْمُهُ، وَرَغَمَ لَكَ أَنْفُهُ. اللّٰهُمَّ لاَ تَجْعَلْنِي بِدُعَائِكَ رَبِّي شَقِيّاً، وَكُنْ بِي رَؤُوفاً رَحِيماً، يا خَيْرَ الْمَسْؤُولِينَ وَيا خَيْرَ الْمُعْطِينَ *

اې زما مولا! ته زما خبره اورې، دریځ مي ګورې، په پټ او ښرګند مي پوهېږې، زما هیڅ کار درنه پټ ندئ. زه غم ځپلی، فقیر، فریادي او د پناه په لټه کې یم. او پوړېدونکی، وېرېدونکی، په خپلې ګناه مقر او معترف یم، د مسکین د سؤال په شان درته سؤال کوم او د ذلیل ګنهکار د زارۍ په څېر درته زاري کوم او د وېرې اخیستي ړانده د دعاء په شان درته دعاء کوم، هغه چي غاړه ئې درته کږه شوې او له سترګو ئې تا ته اوښکې بهېږي او ټول بدن ئې تسلیم او پزه ئې درته په خاورو شوې، خدایه! له تا د غوښتني په اړه مي زما ربه! بدبخته او محروم مه کړې او په ما زړه سواند او مهربانه شې. اې د سوالونو ترټولو غوره مقامه! او اې ترټولو غوره ورکوونکیه!

# د طائف دعاء

اللّٰهُمَّ أَشْكُو إِلَيْكَ ضَعْفَ قُوَّتِي، وَقِلَّةَ حِيلَتِي، وَهَوَانِي عَلَى النَّاسِ، يا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ، انت رب المستضعفين و أَنْتَ رَبِّي، إِلَى مَنْ تَكِلُنِي، إِلَى عَدُو بَعِيدٍ يَتَجَهَّمُنِي، أَمْ إِلَى صديق قَرِيبٍ ملكته أمرى؟ إن لم يكن بك على غضب فلا ابالى غَيْرَ أَنَّ عَافِيَتَكَ أَوْسَعُ لِي، أَعُوذُ بِنُورِ وَجْهِكَ الَّذِي اضاءت له السموات أَشْرَقَتْ لَهُ الظُّلُمَاتُ، وَصَلَحَ عَلَيْهِ أَمْرُ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، أَنْ يَنْزِلَ بِي غَضَبكَ أَوْ يحِلَّ بِي سَخَطكَ، لَكَ الْعُتْبَى حَتَّى تَرْضَى، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِكَ»

اې اللّٰه! تا ته د خپل قوت له ضعف او کمزورۍ او د خپل توان له کموالي او د خلکو په نظر کې له خپل سپکوالي شکايت کوم، اې تر هر مهربان زيات مهربانه! ته د مستضعفينو رب يې او ته زما رب يې، چا ته مې سپارې؟ لرې دشمن ته چې تندی راته تريو کوي؟ او که نږدې دوست ته چې تا زما د کار واکمن کړی. که ته راباندې غصه نه وې نو هيڅ پروا نلرم، خو ستا عافيت راته ډېر خور بربښي، ستا د مخ په هغه نور سره پناه غواړم چې آسمانونه او زمکېورباندې روښانه شوي او تيارې ورباندې رڼې شوې او د دنيا او آخرت چارې ورباندې اصلاح شوې، له دې چې ستا غضب راباندې نازل شي او يا ستا غصه مې احاطه کړي، تا ته د عتاب حق دئ څومره چې ستا خوښه وي، نه ( له کوم کار د راگرځېدو) توان او نه ( د کوم کار د تر سره کولو ) قوت تر لاسه کېدی شي مگر ستا په توفيق سره.

# سـلام

ستا ځلمونه ښي او کيڼ لوريو ته په سلام اچولو سره پای ته رسېږي، ته ټولو هغو ته چې ستا مخي يا ښي لاس او يا کيڼ لاس ته دي، که امام دئ، که نور ځلمونه کوونکي او که ملائکي وايې:

السلام عليکم ورحمة اللّٰه

په تاسو دي سلامتيا وي او د اللّٰه رحمت.

پدې الفاظو سره ته له يوې خوا دوی ته له اللّٰه تعالی د سلامتيا او پېرزويني غوښتنه کوې، له بلي خوا هغوی ته ډاډ او اطمئنان ورکوې چې دوی ستا له هر راز ضرر خوندي دي او ستا په زړه کي هغوی ته دروغتيا او سلامتيا قوي تمنا او تلوسه شته.

# لمونځ د ښېګڼو سرچينه

لمونځ د انسان په اخلاقي روزنه کې ژور او عميق اثرات لري، د ده فردي او اجتماعي سلوك اصلاح کوي او د ده له اخلاقي شخصيت د رذائلو د رژولو مؤثره وسيله ده. قرآن فرمايي:

اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ * العنكبوت: ٤٥

د دې کتاب هغه برخه لوله چي تا ته ئې وحي شوې او لمونځ قائم کړه، يقيناً چي لمونځ د فحشاء او منكر مخنيوی کوي او د الله يادونه ډېره ستره ده، او الله په هغه څه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ.

د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- رسول الله صلى الله عليه و سلم او د ده له لاري مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چي قرآن ولولي او لمونځ وکړي، يعني که تاسو د مخکنيو پيغمبرانو او مؤمنانو په څېر له آزموينو سره مخامخ يئ نو قرآن ته رجوع وکړئ، هغه ځان ته لارښود کړئ، د هغه په رڼا کې خپله لاره او خپل دريځ وټاکئ او په لمانځه سره دا سعادت ترلاسه کړئ چي له فحشاء او منكر خوندي پاتي شئ او د الله تعالی مرسته او تأييد مو په برخه شي، يقيناً چي لمونځ نه يوازي له هر سپك او کرکجن کار مخنيوی کوي بلکي ډېر نور ايجابي نتائج لري، دا ځکه چي د الله يادونه ډېره ستره او اغېز ئې ستر او پراخ دئ، دا لارښووني د هغه الله تعالی له لوري دي چي ستاسو د کړنو په

څرنګوالي او پایلو ډېر ښه پوهېږي.

پدې مبارك آیت کې چې د لمانځه د اغېز په اړه څه ویل شوي خلاصه ئې دا ده:

- لمونځ له هر هغه کرکجن فکر، وینا او فعل انسان منع کوي چې د سالم فطرت خاوند ترې کرکه لري او بل ئې له ده نه خوښوي. د دې وجه کاملاً څرګنده ده، د هر انسان اخلاق او سلوك د ده له قبلې او هدف څني رنګ اخلي، دا ستا د ژوند جهت او ستا د هلو ځلو مقصد او هدف دئ چې ستا د کړو وړو څرنګوالی ټاکي. ته په خپل لمانځه سره له شیطان سره چې د شر په لوري هڅوونکی دئ مقاطعه کوې، د ده له وسوسو الله ته پناه وړې، مخ خدای ته اړوې او شا شیطان ته، خود به له ټولو هغو بدو کارونو ډډه کوې چې شیطان ئې خوښوي او الله وربانديي ناراضه کېږي.
- کوم لمونځ چې د فحشاء او منکر مخنیوی ونکړي هغه لمونځ لمونځ ندئ.
- د لمانځه یوازې سلبي نتائج ندي چې فقط له کرکجن فکر، قول او عمل مانع شي، بلکې بې شمېره ایجابي اثرات او نتائج لري. دې مطلب ته د نوموړي آیت پدې برخې کې اشاره شوې: وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ: او د الله یادونه ډېره ستره ده. په تفسیرونو کې د دې فقرې لاندې تعبیرونه مومو:
- دلته له ذکر مراد لمونځ دئ، یعنی لمونځ تر دې هم ستر دئ چې یوازې له فحشاء او منکر مخنیوی وکړي، بلکې په انسان کې د لوړو لوړو اخلاقي ښېګڼو د پیدا کېدو باعث دئ.
- ته په لمانځه کې د الله یادونه کوې او الله جل شأنه ستا یادونه کوي،

خو د اللّٰه یادونه ډېره ستره او غوره ده، که ته ئې د زمکې په کوم ګوټ کې له ځان سره یاد کړې نو لوی اللّٰه جل شأنه دې پورته په آسمانونو کې یادوي، که ته ئې د انسانانو په کومې ټولنې کې یاد کړې، نو اللّٰه جلت عظمته دې په ملاء اعلی کې، ستا تر ټولنې په غوره ټولنې کې یادوي، اللّٰه جل شأنه فرمايي: فَاذْكُرُونى أَذْكُرْكُمْ : ما یاد کړئ چې یاد مو کړم.

- د لمانځه او د بل هر عبادت، اساسي او ترټولو مهم جزء د اللّٰه ذکر او یادونه ده، د عباداتو ظاهري حرکات د جسد د غړو په شان او د اللّٰه یادونه د هغه د روح په څېر ده، که کوم څه یو واقعي عبادت، له یوه بې مقصده حرکت او یوه انساني عادت، تقلید یا شکلي مراسمو بېلوي نو هغه د اللّٰه ذکر دئ، اللّٰه ته مقبول عبادت یوازې هغه دئ چې محرك او هڅوونکی ئې د خدای ذکر وي. دا مطلب په یوه مبارك حدیث کې ډېر ښکلی انځور شوی:

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيّ صلى الله عليه و سلم « أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيكِكُمْ وَأَرْفَعِهَا فِي دَرَجَاتِكُمْ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوا أَعْنَاقَكُمْ ». قَالُوا بَلَى. قَالَ « ذِكْرُ اللَّهِ تَعَالَى ». الترمذى

له ابو درداء رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمایل: آیا تاسو ته تر ټولو غوره عمل مو دروښیم، هغه چې ستاسو د رب په وړاندې تر ټولو پاکیزه او ستاسو په درجو کې تر ټولو لوړ، او د سرو سپینو زرو تر انفاق هم غوره وي، او تردې هم چې له دښمن سره په جګړې کې مخامخ شئ، نو تاسو د دوی غاړې او هغوی ستاسو غاړې

ووهي؟ صحابه وو وويل: هو يا رسول اللّٰه! هغه وفرمايل: د اللّٰه جل شأنه ذکر.

خو دې ته مو بايد پام وي چي د دې معنی هیڅکله دا نه ده چي په يوې گوښې کې ناسته او د اللّٰه د نامه ورد او ذکر تر دغو عملونو د مقام، منزلت، ارزښت او درجې له پلوه غوره دئ، شپېته کاله، د کعبې خوا ته داسي عبادت چي ورځ ئې په روژې او شپه ئې په لمانځه تېره کړې د سنگر له يوې ورځي سره برابري نشي کولی، معنی ئې دا ده چي د اللّٰه يادونه هر نېك عمل ته ارزښت ورکوي، ستا جهاد او د سرو او سپينو زرو انفاق هغه مهال ارزښت لري چي باعث ئې پر اللّٰه تعالی ايمان او د هغه يادونه وي، ستا جهاد هغه مهال تر ټولو عباداتو لوړ دئ چي په سنگر کې دي زړه د اللّٰه په نامه ډاډه وي او هدف دي د اللّٰه دين قائمول وي.

- د اللّٰه ذکر يوازي په پنځه وخته لمانځه کې مه محدودوئ، د اللّٰه جل شأنه د ذکر لمن پراخه او ستره ونيسئ، هر وخت په هر مناسب حالت کې هغه ياد کړئ، ستاسو ژبه بايد تل د اللّٰه په ذکر لمده وي.
- لکه څنگه چي د انسان د ټولو ښېگڼو اصلي محرك فقط په اللّٰه ايمان دئ، همداراز د ټولو بديو، فساد او ظلم اصلي عامل ئې په خدای ايمان نه درلودل دي، څوك چي په خدای او آخرت ايمان نه لري، ولي بايد خپل شهوات او د نفس غوښتني مهارکړي، ولي بايد د ځان په گټه د بل حق غصب نکړي، ولي بايد له هغي گناه او خيانت چي کولی ئې شي ډډه وکړي؟!!

د همدې لپاره ته د ورځي په پنځه وخته لمانځه مکلف شوی يې چي

تل دي خدای په یاد وي او له هغه سره ستا دائمي تړاو او ربط، تا له هري ګناه منع او هري ښېګڼي ته وهڅوي.

هغه به څوك وي چي دا خبره ونه مني چي په انسان کي د بدي او ګناه په لوري یو داسي هڅوونکی څواك شته چي هغه ته وايي: په خپل حق قناعت پرېږده، په خپل حلال رزق اکتفاء ناپوهي ده، د خپلو غرائزو د اشباع یوازي جائز او مشروع لاري ترك کړه، نفس دي چاغ او څورب کړه، ټولو غوښتنو ته ئي ځواب ووایه، په بل خپله لويي ومنه، نور دي ستا د خوښۍ لپاره قربان شي، ټول غوره، خوندور، نفیس، ښکلي، ښایسته، ګران او ګټور شیان باید ستا وي، که خوراك دئ، که څښاك دئ، که کور، جامه، ښځه، موټر، منصب، او مقام دي، له هري لاري چي ممکن وي، باید دې ته ځان ورسوې، دا حریص، ګناه ته هڅوونکی او د بل په حق تېري ته پاروونکی څواك، په الله او آخرت له ایمان پرته په بل هیڅ څه نشي مهارکېدی.

که ته نه یوازي دا چي په خپل حلال رزق اکتفاء کوې بلکي د خپل لاس په تناکو ګټلی مال د کوم مظلوم د لاس نیوي او مرستي په لار کي یا د کوم ستر او مقدس هدف د تحقق لپاره قرباني کوې، آیا په الله جل شأنه له ایمان پرته د دې لپاره کوم بل عامل او باعث موندلی شې. په انسان کي د اخلاقي ښېګڼو، غوره انساني صفاتو، ښه خویونو او په بل د ترحم او عاطفې ونه له هغه زړه څروبه کېږي چي د الله په یاد خوځېږي، د الله له ذکر خالي زړه د رجیم شیطان ځاله شي چي له هغه ځایه د انسان ټول احساسات د شر، فساد او ګناه خوا ته هڅول کېږي.

# ځمونځ د مضطرب زړه درمل

الله جل شأنه فرمايي چي د کړاوونو او ستونزو په وخت کي په لمانځه او صبر سره مرسته وغواړئ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ *

البقره: ۱۵۳

اې مؤمنانو! په صبر او لمانځه سره مرسته وغوارئ، يقيناً چي الله له صبر کوونکو سره دئ.

غم، هم او اضطراب د انسان د پرېشانۍ او اندېښنې درې خاص حالتونه دي:

(غم) هغه اندېښنه ده چي د يوه څرګند مصيبت له کبله دي څه له لاسه ورکړي وي او له همغه عزيز شي د محروميت له کبله دي په زړه او دماغ د غم ورېځي خورې وي.

(اضطراب) هغه حالت دئ چي کوم محتمل مصيبت ته سترګي په لاره يې، د هغه د ناڅاپي راتلو خطر دي تهديدوي او د همدې خطر له کبله ستا په زړه له وېرې سره توأم پرېشاني مسلطه شوې وي.

او (هم) هغه اندېښنه او پرېشاني ده چي وجه ئې واضح او څرګنده نه ده، زړه دي لالهانده او له اطمئنان او ډاډ محروم او لدې حالت د وتلو چاره درنه ورکه، نه پوهېږې حواس دي ولي ناقراره او زړه دي ولي بې صبره دئ او څنګه خپل زړه او دماغ آرام او ډاډه کړې.

ځمونږ تا تـه خپـل رب دریـادوي او پـه همـدې سره سـتا غـم، هـم او اضطراب ختموي: د خپل پیدا کوونکي، پالونکي او سـاتونکي رب پـه رایـادولو سره دې ته متوجه کېږې چې سـتا هرڅـه د اللّـه ورکـړه ده. د ده پـه اراده درکړل شوي او د ده په امر درنه اخیستل شوي، د ورکړي په وخت کې په تـا د منعم رب شکر لازم دئ او د اخیستني په وخت کې په تا صبر او رضـایت. ستا په ژبه به حتماً دا الفاظ راځي چې:

إِنَّا للّٰهِ وَ إِنَّا إِلَيْهِ رَجِعُونَ

موږ د اللّٰه یو او د ده په لوري ورتلونکي.

ځمونږ په تاکې دا شعور احیاء کوي چې پدې عالم کې ټولي فیصلې ستا ټولواك رب کوي، څه چې هغه غوښتي وي فقط همغه به کېږي، د محتمل خطر له وېري اضطراب او پرېشاني آخوا ته وغورځوه، په مطمئن او ډاډه زړه د پېښو مقابله وکړه، کوم مصیبت چې اللّٰه نه وي درته لیکلی هیڅوك ئې په تا نشي مسلط کولی او دکوم مصیبت فیصله چې اللّٰه جل شأنه کړې وي له ده پرته ئې بل څوك نشي درنه رد کولی.

له قرار او ډاډ خالي زړونه، مضطرب او پرېشانه حواس او ناآرامه او له سکون محروم دماغ چې نامعلومه هم او غم ورباندې وزري خورې کړې، نه ئې وجه معلومه او نه ئې چاره، دا د انسان لپاره ترټولو زیات دردونکی عذاب دئ، د انسان نشاط او تحرك ختم کړي، مشاعر او عواطف ئې مړه کړي، د مقصد په لوري د تلو عزم او اراده ترې واخلي، ورو ورو د ده ټول حواس فلج کړي. د دې بیمارۍ اصلي عامل د خدای هېرول او د انسان او د ده د رب ترمنځ د رابطې شلېدل دي.

حکيم خدای د کافرانو په اړه فرمايي:

... لَهُمْ عَذَابٌ مِنْ رِجْزٍ أَلِيمٌ * سبا: ٥

دوی ته د اضطراب درد ناك عذاب دئ.

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى * طه: ١٢٤

او چا چي زما له ياده ډډه وکړه نو هغه ته به د تنگسې او پرېشانۍ ژوند وي او د قيامت په ورځ به ئې ړوند حشر کوو.

که تاسو نن د غربي نړۍ په بيماره ټولني کي گورئ چي په شديد رواني اضطراپ اخته او له سختو روحي امراضو سره مخامخ ده او لدې عذاب د ځان ژغورني لپاره تر قوي لازياته قوي مسکنه دواگانو، مخدره او نشه يي موادو ته پناه وړي، ترڅو ناآرامه اعصاب تخديرکړي او د څو شېبو لپاره ئې روحي پرېشاني او رواني اضطراب تسکين کړي، خو د دې په ځای چي له دې عذابه ئې وژغوري، برعکس له مزيد گڼ شمېر داسي نوو اجتماعي آفتونو سره ئې مخامخ کړي چي له علاج ئې عاجز وي، د دې ټولو اصلي وجه له الله تعالی لري والی او په الله جل جلاله د ايمان نشتوالی دئ.

مگر نه گورئ چي په همدې خاطر په غربي ټولني کي د مخدره موادو د استعمال گراف پداسي حال کي ورځ په ورځ اوچت درومي چي غرب په ټول توان طاقت او له ټولو هغو پراخه امکاناتو او وسائلو په استفادې سره چي په واك کي ئې لري د هغه د مخنيوي کلکه او دوامداره هڅه کوي.

آيا عجيبه نده چي په آسيايي ملکونو کي د دغو موادو اصلي توليدوونکي د هغه له استعمال کرکه لري، خو غربيان ئې د لاس ته راوړلو

لپاره په زرګونو ميله سفرونه کوي، د سخت پوليسي تعقيب او څارنې لاندې، د ابدي حبس، حتى اعدام د جدي خطر منلو سره سره هغه اروپايي او امريکايي مارکيټونو ته رسوي او هلته ئې د طلا په بيع خرڅوي.

د دې وجه څرګنده ده، په غرب کې په الله جل جلاله د ايمان د جرړو وچېدل او په آسيا کې کم يا زيات له الله جل جلاله سره تعلق .

ترټولو عجيبه خبره دا ده چې غربي نظامونه د دې په ځای چې په واشنګټن، نيويارك، پاريس او لندن کې د دې موادو د عدم استعمال لارې ولټوي برعکس په آسيايي ملکونو کې د هغه د کښت د مخنيوي بې حاصلې هڅې کوي.

دوی په دې نه پوهېږي چې ولې انسان نشه يي او مخدره موادو ته پناه وړي؟ او په غربي ټولنې کې څه پدې منتج شوي چې د هغې اجتماع په غېږ کې ستړ شوی انسان په رواني اضطراب اخته وي او له همدې اضطراب د ځان ژغورنې لپاره مخدره موادو ته مخه کوي؟ د دې ستر اجتماعي آفت علاج يوازې يو درمل لري: له الله جل جلاله د پردې شوي انسان، د الله جل جلاله له ياده خالي مضطرب زړه، د الله تعالى په ياد خړوبه کول او له همدې لارې د ده رواني اضطراب او روحي پرېشاني ختمول. قرآن فرمايي:

... أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ * الرعد: ۲۸

پام چې د الله په ذکر سره زړونه مطمئن کېږي.

د ژوند په سختو سختو شېبو کې چې له الله تعالى غافل انسان خپل حواس بايلي، اعصاب ئې له کنټروله وځي او دماغ ئې کارکول پرېږدي خو د الله په ذکر معمور زړه مطمئن او ډاډه وي.

# په جګړوکي د بري عامل

الله جل شأنه فرمايي چي د حق له دښمنانو سره په جګړي کي د مخامخ کېدو په وخت کي بايد ثبات ولرئ او الله جل جلاله زيات ياد کړئ ترڅو برلاسي او بريالي شئ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ * الانفال: ٤٥

اې مؤمنانو! کله چي له کومي ډلي سره ( په جګړي کي) مخامخ شئ نو ټينګ شئ او الله ډېر ياد کړئ چي بريالي شئ.

قرآن عظيم الشأن په جګړي کي د بري دوه ډوله عوامل بيان کړي:

الف: جنګی قوت او حربي وسائل.

لکه چي فرمايي:

وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ ... الانفال: ٦٠

او دوی ته څومره چي توانېدی شئ قوت او تړلي آسونه برابر کړئ.

ب: د جګړي په ميدان کي ثبات، له جنګ د راولاړو شوو ستونزو په وړاندي صبر، د وحدت او نظم ساتنه، اطاعت، له تحمل او زغم کار اخيستل، تفقه او پوهه، د عقيدې او هدف لوړوالی، له کبر، لويي او ځان ښودني ډډه او د الله جل شأنه ډېرډېر يادول.

خو وايي: د جګړي هرطرف چي وتوانېدو له معنوي پلوه پر خپل حريف برلاسی شي، که څه هم د جنګي قوت او حربي وسائلو له پلوه د هغه په پرتله ډېر کمزوری او ناتوان وي او د دوی ترمنځ تناسب ۱پر۱۰

وي، وروستی بری به د هماغه طرف په برخه وي.

یعنی په جګړي کې د دښمن د شمېر او وسائلو زیاتوالی باید په تاسو کې وېره راولاړه نکړي او د خپل بري په اړه مو شکمن نکړي. که تاسو له معنوي اړخه په دښمن خپل لوړوالی وساتو، که څه هم د هغه شمېر ستاسو په پرتله لس ځله زیات وي، آخري فتح به ستاسو وي.

د الله جل جلاله ذکر او لمونځ په تا او ستا د سنګر په ملګرو کې د بري معنوي لاملونه برابروي، صبر او ثبات مو په برخه کېږي، د دښمن له قوت وېره او د مرګ خوف مو له زړه لري کېږي، د الله جل جلاله غیبي مرستو ته مو هیله زیاتېږي، او بالآخره هغه ذات چې د عالم د چارو واګې ئې په اختیار کې دي او د ماتې او بري فیصله کوي، هغه به خپل نصرت او تأیید ستا په برخه کوي او پر دښمن به بری درکوي.

# د اسلامي حکومت لومړۍ دنده

په اسلامي نظام کې د واکدارانو لومړنۍ او تر ټولو ستره وظیفه د لمونځ قائمول دي.

قرآن پدې اړه فرمايي:

الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ * الحج:٤١

هغه چي که په زمکي کي تمکین ورکړو، لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په معروف گمارل او له منکراتو مخنیوی کوي او د چارو پایله الله لره ده.

- د الهي نصرت او تأیید وعده له هغو مجاهدینو سره شوې چي که الله تعالی هغوی ته په زمکي کي تمکین ورکړي، نو لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په معروف گمارل او له منکراتو مخنیوی کوي، یعني د دوی لومړنی کار د لمانځه قائمول دي، لدې وینا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي په اسلامي نظام کي د واکدارانو لومړنۍ او تر ټولو ستره وظیفه د لمونځ قائمول دي. د یوې غوره اسلامي ټولني په جوړولو کي ترټولو زیات اغېزمن کار د لمانځه قائمول دي. که اسلامي حکومت پدې وتوانېدو چي جوماتونه له معنوي لحاظه آباد کړي، د جومات امامت صالح، متقي او په دین پوه داعي ته وسپاري، خلك له جومات سره عادت کړي او جومات چي د خلکو په فکري، معنوي، اجتماعي او سیاسي روزني کي کوم اغېزمن کارکولی شي هغه ترسره شي، کولی شي د ټولني ټولي ناخوالي سمي او ټول مشکلات حل

کړي. دا په دې شرط چي د لمانځه تر څنګ له شتمنو زکات ترلاسه کړي او په خپلو شرعي مواردو کې ئې ولګوي، ښېګڼو ته وده ورکړي او د منکراتو مخنيوی وکړي.

د دې لارښوونو په پای کې ويل شوي چي د چارو پايله الله تعالی ټاکي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چي څوك له کوم برخليك سره مخامخ کړي او د چا پر کارونو کوم نتائج مرتب کړي، د الله د لاري مجاهدين بايد ډاډه او مطمئن وي چي هلي ځلي او قربانۍ ئې هدر نه ځي او بې نتيجې نه پاتې کېږي.

چي د يوه محل خلك هره ورځ پنځه ځله راغونډېږي، په هري اونۍ کې د يوې منطقې خلك يو ځل اجتماع کوي، په کال کې دوه ځله د يوې لويې ساحې اوسېدونکي په يوې ستري غونډې کې د اختر په شان دوو خاصو ورځو کې غونډه کوي او پدې اجتماعاتو کې ټول په منظمو ليکو کې د يوه بل څنګ ته، يوې قبلې ته مخه کوي، د واحد رب په وړاندې ودرېږي، په يوه امام پسې اقتدا کوي، د هغه په قومنده، لاسونه الله جل جلاله ته د تسليمۍ په نامه پورته کوي، لاس تړلي ودرېږي، رکوع او سجده کوي، په خپلو حرکاتو کې له امام مخکې وروسته کېدل ګناه ګڼي، په خپلو منځونو کې معمولي فاصله، او ډېره کمه اندازه يو له بل وروسته مخکې ودرېدل غلطي شمېري او له هغه ډډه کوي، دا ظاهري منظم حرکات له ژور فکري او معنوي احساس او يووالي سره توأم تر سره کېږي، د جمعې په هره اجتماع او د اختر په غونډو کې امام مکلف دئ جامع او لارښوونکې وينا وکړي او مقتدي مکلف دئ په ډېر غور او دقت سره هغه واوري، د دولت رئيس

مکلف دئ چي په مرکز کي په خپله د دغو اجتماعاتو رياست وکړي او شخصاً د لمانځه امامت وکړي او په لري ځايونو کي د ده کفيل دا کار ترسره کړي. پدې سره چي د خلکو ترمنځ د يووالي، د مشرانو او کشرانو ترمنځ د بعد او فاصلې ختمولو، يو د بل له حالت د خبرېدو، د محل، منطقې، ساحې او هېواد او نړۍ په وضعيت د پوهېدو، او سترو سترو اجتماعي کارونو ته د ولس د چمتو کولوکوم کار کېدی شي له بلې هيڅ لاري ممکن ندئ.

تاسو چي د نړۍ د ډېرو منظمو، ځواکمنو، سياسي او انقلابي احزابو، تنظيمي او تربيتي پروګرامونه او د حزبي جلسو څرنګوالی لدغه څه سره چي اسلام وضع کړي، مقايسه کړئ نو هلته د لمانځه او جماعت په اهميت پوهېدی شئ.

دا د جماعت لمونځونه په حقيقت کي د حزب اللّٰه ورځنۍ، اونيزي او کلنۍ حزبي جلسې دي.

# د ناصالح خلف نښه

قرآن عظیم الشأن د ناصالح خلف او د هغه نا اهله ټولګي چي نه دئ توانېدلی د خپل پتمن او سرلوړي سلف د عظمتونو او جلال ساتنه وکړي؛ یوه لویه او اساسي نښه د لمانځه ضائع کول ګڼي او فرمايي:

فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا * مریم: ۵۹

بیا له دوی وروسته هغه خلف (بد ځای ناستي) ورپسې شول چي لمونځ ئې ضائع کړ او د نفس د غوښتنو متابعت ئې وکړ نو خود به له ورکاوي سره مخامخ کېږي.

یعنی چا چي لمونځ ضائع کړ او د نفس بنده شو؛ د یوه باعزته او باعظمته قوم د شرف او د سرلوړۍ د لرغوني میراث ساتنه نشي کولی، ډېر ژر به په میراث ترلاسه کړی عزت بايلي او له سپکاوي او ورکاوي سره به مخامخ کېږي.

# لمونځ دکچه خویونو مانع

عظیم الشأن قرآن د لمانځه د دې خصوصیت په اړه داسې څرګندونه کوي:

إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا * إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا * وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا * إِلَّا الْمُصَلِّينَ * الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ * وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ * لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ * وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ * وَالَّذِينَ هُمْ مِنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ * إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ * وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ * فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ * أُولَئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُونَ * المعارج: ۱۹- ۳۵

یقیناً چې انسان ډېر کم ظرفه او بې صبره پیدا شوی، چې شر ور ورسېږي زګېروی کوونکی شي او چې خیر ئې په برخه شي ( د خیر د کار) سخت مخنیوی کوونکی شي، مګر لمونځ کوونکي، هغه چې په خپل لمانځه پایښت کوي او هغه چې په شتمنیو کې ئې د سوال کوونکو او بې وزلو لپاره څرګنده برخه وي، او هغه چې د بدلې ورځ رښتینې ګڼي او هغه چې د خپل رب له عذابه وېرېږي، ځکه چې د دوی د رب له عذابه خوندي پاته کېدا نشته، او هغه چې د خپلو شرم ځایونو ساتنه کوي، مګر په خپلو مېرمنو یا وینځو چې پدې صورت کې دوی پړه او ملامت ندي او چا چې پر

دې سربېره څه وغوښتل تېرى كوونكي دي، او هغه چې د خپلو امانتونو او ژمنو پاملرنه كوي، او هغه چې په خپلو شهادت وركولو په نېغه ودرېږي، او هغه چې د خپل لمانځه ساتنه كوي، د دوى به په جنت كې درناوى كېږي.

پدې مباركو آيتونو كې لاندې ټكي د خاصې پاملرنې وړ دي:

- د ستونزو او كړاوونو په وخت كې بې صبري، سرټكول، بده ورځ جوړول او شكوه او شكايت كول او د شتمن كېدو په صورت كې بخل كول، د خير په لار كې د خپل مال له مصرفولو ډډه او له خپلې شتمنۍ د ښېګڼې د هر كار د مخيوې په لار كې كار اخيستل، د انسان هغه دوه ناوړه او بد خويونه دي چې د ده اكثر اجتماعي مشكلات له همدې راولاړېږي، لدې يوازې (مصلين) يعنى لمونځ كوونكي خوندي پاتې كېږي.
- په دغو آيتونو كې چې كومو سترو سترو اخلاقي ښېګڼو ته اشاره شوې په سر او پاى كې ئې د لمانځه ذكر راغلى او ټولې لمونځ كوونكو ته منسوب شوې چې معنى ئې دا ده: لمونځ د ټولو ښېګڼو د پيل نقطه ده، لمونځ د ټولو دغو ښېګڼو بنسټ دئ، لمونځ په دغو ټولو ښېګڼو احاطه كړې، هم ئې د پيل عامل دئ او هم د دوام.

همدا مطلب د المؤمنون د سورې په لومړنيو آيتونو كې داسې راځي:

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ * فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ * أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ * الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ

فِيهَا خَالِدُونَ * المؤمنون: ١-١١

يقيناً هغه مؤمنان بريالي شول چي په خپل لمانځه کي خشوع کوونکي دي، او هغه چي له بېهوده (خوشي کار او خبري) ډډه کوونکي دي، او هغه چي د زکات ترسره کوونکي دي، او هغه چي د خپلو عورتونو ساتونکي دي، مگر پر خپلو جوړو او وينځو چي په دې سره دوی پړه او ملامت نه دي، نو څوك چي سربېره پر دې لټوي نو هغوی تېری کوونکي دي، او هغه چي د خپلو امانتونو او ژمنو پالونکي دي، او هغه چي د خپلو لمونځونو ساتنه کوي، همدا دوی هغه وارثان دي چي فردوس په ميراث وړي، په هغه کي به تلپاتي وي.

په دې مبارکو آيتونو کي فلاح او بريا ته د رسېدو دغه لوازم او شرائط بيان شوي:

١- په لمانځه کي خشوع او عاجزي، ٢- له عبثو خبرو او کارونو ډډه کول، ٣- په پاکوَني او روزني بوختيا، ٤- له ناروا جنسي اړيکو د خپلو عورتونو ساتنه؛ ٥- د امانتونو حفاظت، ٦- خپلي ژمني ترسره کول، ٧- د خپلو لمونځونو حفاظت.

پدې آيتونو کي هم گورئ چي د فلاح او بري د عواملو په ډله کي لومړی عامل له خشوع سره لمونځ او وروستی عامل د لمونځونو ساتنه ښودل شوي.

# د مسجد سمسوروونکي

د ټولني معنوي او مادي رغونه او سمسورتيا د مسجد د معنوي سمسورتيا له لاري ممکنه ده، له بلي لاري د يوې صالح ټولني جوړول امکان نه لري، خو هغه څوك دئ چي مسجد آبادولی شي؟ قرآن پدې اړه داسي وضاحت کوي:

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ * التوبه: ۱۸

يقيناً چي د الله جوماتونه خو يوازي هغه څوك آبادولی شي چي پر الله او د آخرت پر ورځي ئې ايمان راوړی، لمونځ ئې کړی، زکات ئې ورکړی او له الله پرته (له هيچا) نه وېرېږي. نو ښايي چي همدا خلك به له هدايت شوو څخه وي.

په دې مبارك آيت کي د هغو کسانو مواصفات بيان شوي چي په مادي او معنوي لحاظ د جوماتونو د آبادولو وړتيا لري:

- پر الله تعالی ئې ايمان راوړی،
- د آخرت پر ورځي باور لري،
- لمونځ ئې کړی،
- زکات ئې ورکړی او
- له الله تعالی پرته له بل چا نه دئ وېرېدلی.

په چا کي چي دا پنځه صفات نه وي هغه د الله تعالی د جوماتونو رښتينی خدمتگار نشي کېدی، هو؛ هغه څوك به څنگه له جومات د حق سنگر جوړ

کړي او له منبر به د حق ږغ لوړ کړي چې ډارن دئ او له الله تعالی پرته له بل چا وېرېږي؟! له بل چا د رزق او روزي طمع لري، له بل چا په خپل رزق او روزي وېره لري، د بل جیب ته ئې سترګي وي؟ څوك چې په خپله پر خدای او آخرت رښتینی ایمان نه لري بل به څنګه رښتیني ایمان ته هدایت کړي؟! د چا چې خپل لمونځ رښتینی لمونځ نه وي څنګه به په لمانځه کې د بل سم امامت کوي؟! څوك چې د مال قربانولو ته چمتو نه وي بل به څنګه د خپل سر او مال قربانولو ته چمتو کړي، ډارن او جبون انسان نه په مسجد کې د خلکو سم امامت کولی شي، نه په سنګر کې او نه په نورو دیني چارو کې د مسلمانانو سمه لارښوونه.

یعني له معنوي پلوه د جوماتونو او مساجدو د اعمارکار هغه خلك کولی شي چې صفات ئې په دې آیت کې ښودل شوي. د جوماتونو ظاهري آبادي او اعمار بېل کار دئ او د هدایت له پلوه ئې رغول او اعمار بېل، لکه چې په یوه روایت کې راغلي چې په آخره زمانه کې به جوماتونه په ظاهر کې ښه آباد، مزین او ښایسته وي خو د هدایت له پلوه به خراب او وران وي.

جوماتونه د هدایت له ناحیې هغه څوك آبادولی شي او هغه داعي د الله د دین خدمت کولی شي چې د مخکنیو صفاتو ترڅنګ، دا صفت هم ولري چې له الله جل شأنه پرته له بل چا ونه وېرېږي. د آیت په پای کې دا وینا چې هیله ده دغه کسان هدایت موندونکي وي، ښیي چې پر دغو صفاتو علاوه هم داسي څه شته چې د هدایت لپاره ضروري دي، یوازي دغه صفات کفایت نه کوي، پر دغو صفاتو سربېره ځیني داسي پړاوونه

شته چې له هغوی د تېرېدو په صورت کې دا ثابتېږي چې آیا دوی له هغو کسانو دي چې لار ئې موندلې که نه؟ یوازې دا څو خبرې کافي نه دي، بلکې مزید څه ته ضرورت شته، چې هغه په ورپسې آیت کې توضیح کېږي، عملي جهاد به دا ثابتوي چې د چا په زړه کې له الله جل شأنه وېره ده او څوك په رښتیا هدایت شوی دئ او ایمان لري، په جهاد کې دا معلومېږي، جهاد هغه ملاك او معیار دئ چې د هغه په ترخ کې د چا د ایمان حقانیت او حقیقت څرگندېږي، د جهاد په دوران کې به دا معلومېږي چې څوك په خپل ایمان کې رښتینی دئ او څوك دروغجن، څوك مخلص مؤمن دئ او څوك منافق؟ په همدې خاطر د دغو صفاتو له بیانولو وروسته ویل کېږي چې: فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ: ښايي دغه کسان به هدایت موندونکي وي.

د (عسی) په اړه دا توجیه کمزورې ده چې وايي: کله چې دا لفظ د الله تعالی له لوري ویل شوی وي نو د یقین معنی افاده کوي، یعنې دا چې دا کسان په یقین سره لارموندونکي دي! غوره تعبیر دا دئ چې دا لفظ په خپلې اصلي معنی ونیسو، دا هیڅکله صحیح نه ده چې په قرآن کې راغلي الفاظ د اصلي معنی په ځای په بلې معنی واخلو، که الله تعالی غوښتلی چې ووايي: یقیناً دا کسان هدایت موندونکي دي نو هرو مرو به آیت داسې وو: اولئك هم المهتدون.

د دې لارښوونو خلاصه دا ده چې مساجد هله رغېدی شي چې چارې ئې داسې چا ته سپارل شوې وي چې واقعاً په خدای او آخرت ایمان لري، د لمانځه د اقامه کولو استعداد لري او د الله جل جلاله په لار کې د خپلو

شتمنیو قربانولو ته چمتو وي او له الله جل جلاله پرته نه په خپل مرگ ژوند، نه په خپل رزق، روزي او نه عزت او سپکاوي له بل چا وېره لري.

د جوماتونو ورانېدل او د ټولني په رغوني کي د هغوی د اساسي تأثیر ختمېدل هلته پیل شي چي د جومات چاري هغه چا ته وسپارل شي چي له جومات د حق د غلبې، د الله د عبادت، او د شر او فساد د ځواکونو پرخلاف د مبارزې د سنگر او محراب په ځای له هغه ځانته د یوې گولې ډوډۍ ترلاسه کولو دوکان جوړ کړي. هم ئې آذان د څو پیسو لپاره، او هم ئې په محراب کي ودرېدل، محراب د هغه چا په واك کی وي چي له الله جل جلاله پرته له بل وېرېږي او د همدې لپاره د حق خبره نشي کولی، نه د ظالم د مخالفت جرأت کولی شي او نه له مظلوم د دفاع همت. د جومات دنیا پرست او جبون متولي د جوماتونو د ورانولو ترټولو ستر مسبب وي.

ترهغه وخته د دنیا قیادت او زعامت د اسلام او مسلمانانو په لاس کي وو او په ټوله نړۍ ئې په فکري، اخلاقي، سیاسي او حتی نظامي لحاظ حکومت کولو چي د جومات منبر او محراب ئې په هغو حرب کوونکو مجاهدو امامانو ښایسته وو چي له الله جل جلاله پرته نه له بل چا وېرېدل او نه ئې بل ته طمع وه، او د اسلامي امت د برم د پای ته رسېدو او د عالم له قیادت د اسلام او مسلمانانو د خلع کېدو لړۍ هلته پیل شوې چي (محراب) ئې په (دوکان) بدل شوی او مجاهد امام ئې په طماع، مداح او جبون خطیب او د اقتدار د خاوندانو په یوه مزدور، چي هم ئې طمع له ماسوی الله وه او هم وېره. د همدې لپاره باید د امام د انتخاب په اړه ښه غور وشي، د مسلمانانو ولي الامر باید داسي څوك د دې مهمي دندي

لپاره وټاکي چي د هغه له ایمان، تقوی او علم مطمئن وي او پدې ئې باور وي چي هغه له امامت د خلکو په لارښوونې او دیني روزني کي کار اخلي او هېڅکله لدې مقدسي وظیفې ځانته د معیشت د تأمین حرفه نه جوړوي. د دوی د معیشت د تأمین لپاره باید نوري عزتمني او پتمني لاري ولټول شي، د آذان او امامت په نامه له خلکو څه ترلاسه کول، په هیڅ مذهب کي جواز نلري، رسول الله صلی الله علیه وسلم عثمان بن ابی العاص ته وفرمایل: داسی مؤذن ونیسه چي په خپل آذان له چا بدله نه غواړي:

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ إِنَّ مِنْ آخِرِ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِ اتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلَى أَذَانِهِ أَجْرًا يَحْتَسِبَ فِي أَذَانِه *

رواه الخمسة

د اسلام دښمنانو د دین د سپکولو لپاره د امام او عالم د سپکولو لار غوره کړه، هغه ئې د بل دړي ته په ودرېدو او د یوې مړۍ ډوډۍ ترلاسه کولو لپاره سوال ته مجبور کړ او پدې ترتیب ئې د جومات امام د خلکو په سترګو کي سپك او بې عزته کړ او د ولس له قیادت او مشرۍ ئې خلع کړ او د ده او نورو زعامت ئې خانانو، ملکانو، اربابانو او بډایانو ته وسپارو او هڅه ئې وکړه چي منبر او محراب د ظالمو او مفسدو واکدارانو د بقاء لپاره د دعاء په ځای بدل شي.

د امام په امامت د مقتدیانو رضایت ضروري دئ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه امام د لعنت وړ ګڼي چي خلك د ده په امامت راضي نه وي او دی په خپل امامت ټینګار کوي. په دې اړه داسي راغلي:

عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "ثَلَاثَةٌ لَا تَرْتَفِعُ صَلَاتُهُمْ فَوْقَ رُءُوسِهِمْ شِبْرًا رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ و ..."

رواه ابن ماجه

درېٖ کسان داسي دي چي لمونځ ئې له سر د يوې لوېشتي په اندازه پورته نه درومي (نه قبلېږي) يو ئې هغه کس دئ چي د خلکو امامت کوي پداسی حال کی چي خلك لده کرکه لري.

# د مسجد آداب

د زمکي په سر ترټولو غوره او مقدس ځای مسجد دئ، په مسلمان د هغه خاص احترام لازم دئ، مسجد ته د ننوتلو او وتلو په وخت کې باید د هغه آداب مراعات شي، د لاندنیو آدابو توصیه شوې:

- دا غوره ده چي جومات ته په اوداسه داخل شئ، خو د جنابت په حالت کي باید له ننوتلو ډډه وشي.

ام سلمه رضی الله عنها وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم جومات ته داخل شو او وئې فرمایل: جنب او حائضي ښځي ته روا نده چي جومات ته ننوځي.

عَنْ أم سَلَمَةَ قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَرْحَةَ هَذَا الْمَسْجِدِ فَنَادَى بِأَعْلَى صَوْتِهِ إِنَّ الْمَسْجِدَ لَا يَحِلُّ لِجُنُبٍ وَلَا لِحَائِض*

رواه ابن ماجه

- په هغه صورت کي چي د بوی ناك خوراك له کبله یا د خیرو او خولو له کبله له تا داسي تعفن پورته کیږي چي بل ځوروي، نو جومات ته له تلو ډډه وکړه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا ... متفق علیه

چا چي لدي بوی ناکو بوټو(پیاز او هوږي) څه وخوړل نو زموږ جومات ته دي نه راځي.

- د جومات په دروازې له داخلېدو سره سم دا دعاء وکړه:

اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ ... رواه مسلم

باریٔ خدایه! ما ته د خپل رحمت دروازې پرانیزه.

- په هغه صورت کې په خلکو سلام واچوه چې آذان، اقامت یا خطبه نه ویل کېده او خلك په جمع نه وو ولاړ.
- جومات ته له داخلېدو سره سم د مسجد د تحیې دوه رکعته لمونځ اداء کړه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلَا يَجْلِسْ حَتَّى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ* متفق علیه

له تاسو چې کوم کس جومات ته داخل شي نو تر هغه پورې دې نه کښېني چې دوه رکعته لمونځ ئې نه وي کړی.

- په خالي ځای کې ودرېږه، ځانته په جومات کې ثابت ځای مه ټاکه، د خلکو په اوږو تېرېدل او مخکې صف ته ځان رسول منع دي.

نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ... وَأَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ * رواه ابوداود والنسائي

رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې منع کړې چې څوك په جومات کې ځانته خاص ځای و ټاکي، داسی لکه اوښ چې ځانته خاص ځای غوره کوي.

- په جومات کې د راکړې ورکړې خبرې، سوال کول، ورك شی لټول، شور او زوږ کول منع دي.

له ابو هریره رضی الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: که څوك مو ولید چې په جومات کی څه پلوري او یا ئې اخلي نو

ورته ووايئ: په تجارت کې دي گټه ومشه، او که مو ولید چي په هغه کې ورك شوی شی لټوي نو ورته ووايئ: الله دې درته پیدا نکړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ فَقُولُوا لَا أَرْبَحَ اللّٰهُ تِجَارَتَكَ وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ فِيهِ ضَالَّةً فَقُولُوا لَا رَدَّ اللّٰهُ عَلَيْكَ * رواه الترمذي والدارمي

- له جومات او جومات ته د تلو له لاري ناولي او مضر شیان لري کول، د جومات معطره کول، پاکول او روښانه کول د ثواب کارونه دي.

له انس رضی الله عنه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: ما ته زما د امت د اعمالو بدلي راوښودل شوې، حتی د هغه چا اجر هم چي له جومات پرېوتي او ناپاك شیان باسي.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُورُ أُمَّتِي حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ ...

رواه الترمذی و ابوداود

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَاءِ الْمَسَاجِدِ فِي الدُّورِ وَأَنْ تُنَظَّفَ وَتُطَيَّبَ * رواه ابوداود والترمذی

له عائشې رضی الله عنها روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په کلیو کې د جوماتونو د جوړولو، پاکولو او معطر کولو امر کړی دئ.

- جومات د مؤمن لپاره داسي وي لکه اوبه د ماهي لپاره، او د منافق لپاره داسي لکه قفس د مارغه لپاره.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

المؤمن في المسجد كالسمك في الماء والمنافق في المسجد كالطيرفي القفس.

- د امام وينا او خطبې ته بايد په ډېر دقت سره توجه وشي.

له ابن عباس  رضی الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: څوك چي د جمعې په ورځ هغه وخت چي امام خطبه وايي؛ خبري کوي د هغه خره په څېر دئ چي كتابونه پرې بار وي او څوك چي هغه ته ووايي چوپ شه؛ د جمعې لمونځ ئې ونه شو.

عَنِ ابْنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا وَالَّذِي يَقُولُ لَهُ أَنْصِتْ لَيْسَ لَهُ جُمُعَةٌ *... رواه احمد

- له جومات د وتلو په وخت کې دا دعاء وكړه:

اللّٰهم اني أسئلك من فضلك العظيم

بارئ خدايه! ستا د ستر فضل سوال درته كوم.

له أبو اسيد رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: څوك چي جومات ته داخلېږي نو وايي دي: خدايه د خپل رحمت دروازې راته پرانيزه، او چي له جومات وځي نو وايي دي: خدايه ستا كرم او فضل غواړم.

عَنْ أَبِي أَسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ * رواه مسلم

- له جومات سره ستا د زړه رابطه بايد تل ټينګه وي او له هرلمانځه وروسته بايد ستا په زړه کې دا تمنا وي چي ژر د بل لمانځه وخت راورسېږي چي ته جومات ته ځان ورسوې.

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: اوه کسان داسي دي چي په هغه ورځ به ئي الله په خپل سيوري کې ساتي چي د ده له سيوري پرته به بل سيوری نه وي ... لدې کسانو يو هغه دئ چي زړه ئي په جومات پوري تړلی وي، له وتلو بيا تر هغه چي جومات ته بېرته راوګرځي ...

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ ... وَرَجُلٌ كَانَ قَلْبُهُ مُعَلَّقًا بِالْمَسْجِدِ إِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتَّى يَعُودَ إِلَيْهِ ... متفق عليه

- د غائب او له جماعت د محروم شوي ورور پوښتنه وکړه، که بيمار وو عيادت ته ئي ورشه، له جَمعي يا مجبور او مريض وروسته کېږي يا منافق.

اساساً بايد لمونځ په جماعت سره اداء شي، انفرادي لمونځ د مجبوريت په حالت کي په استثنائي ډول جائز شوی، که کله له لومړی جَمعي محروم شوې، د انفرادي لمانځه په ځای په بلي جمعي کي لمونځ اداء کړه.

# د لمانځه او جماعت تارك

قرآن د کافرانو په خلاف د جګړي توقف د دوی د وژلو، نیولو، محاصره کولو او دوی ته په هر قدم کي د کمین نیولو خاتمه په هغه صورت کي جائز ګڼي چي:

- له کفر او له اسلام سره له دښمنۍ خپله بېزاري او توبه اعلان کړي.
- لمونځ وکړي.
- زکات ورکړي

لکه چي فرمايي:

فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ * التوبة: ٥

... كه ئي توبه وكړه، لمونځ ئي قائم كړ او زكات ئي وركړ، نو لاره ئي خوشي كړئ، بېشكه چي الله مهربان بخښونكی دئ.

لدې مبارك آيت په څرګنده توګه معلومېږي چي د لمانځه له تاركينو او د زكات له مانعينو سره جګړه كېدی شي، ابوبكر صديق رضي الله عنه په همدې آيت باندي استناد وكړ او د هغو خلكو په خلاف ئې د جګړي فيصله وكړه چي د اسلام د عوی ئې درلوده خو د زكات له وركړي ئې امتناع كوله.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا

فَيَؤمَّ النَّاسَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ * متفق عليه
له ابو هريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: په هغه ذات قسم چي زما ژوند د ده په واك كي دئ چي ډېر ځله مي اراده كړې چي د لرگيو راغونډولو امر وكړم، نو چي راغونډ كړى شى بيا د لمانحه اداء كولو هدايت وركړم، نو آذان وشي، او بيا چا ته ووايم چي د خلكو امامت وكړي، خلك په مسجد كي پرېږدم او ولاړ شم او د هغو كسانو كورونه وسوځوم چي جومات ته ندي حاضر شوي.

# قنوت

قنوت هغه دعاء ده چي له ډېري زارۍ سره توأم وي، د دې دعاء ځيني خاص الفاظ روايت شوي چي د وتر واجب د آخري رکعت تر رکوع وړاندي او د مصيبتونو په وخت کي د سهار لمانځه د آخري رکعت په قومه کي لوستل کېږي، چي ځيني ئې دا دي:

اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنُؤْمِنُ بِكَ، و نتوكل عليك و نثنى عليك الخير و نشكرك و لانكفرك وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ، اللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ ، وَلَكَ نُصَلِّى وَنَسْجُدُ ، وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ ،و نَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخَشى عَذَابَكَ، إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ "

الهي! موږ له تا مرسته غواړو، له تا بخښنه غواړو، په تا ايمان لرو، په تا توکل کوو، په تا غوره ثنا وايو، ستا شکر پر ځای کوو او ناشکري دي نه کوو، بدکاران پرېږدو او ترې لري کېږو. اې بارئ خدايه! يوازي ستا عبادت کوو، ستا لمانځنه کوو، تا ته سجده کوو، ستا په لوري هڅه کوو، ستا عبادت کي هاند کوو، او ستا د رحمت هيله کوو، او له عذاب دي وېرېږو، ستا عذاب حتماً پر کافرانو پرېوتونکی دئ.

قَالَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِي اللّٰه عَنْهمَا عَلَّمَني رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَاتٍ أَقُولُهُنَّ فِي الْوِتْرِ اللّٰهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ نَستَغفِرُكَ وَ

نَتُوبُ اليكَ * رواه الترمذی

اې مولا! موږ هدايت کړې د هغو په شان چي تا هدايت کړي، عافيت مو په برخه کړې د هغو په شان چي تا ورته عافيت ورکړی، او زموږ پالنه وکړې د هغو په شان چي تا ئې پالنه کړې، په هغه څه کي چي موږ ته دي راکړي برکت واچوې، د خپلو پرېکړو له شر مو وساتې، فيصلې خو ته کوې، ستا په خلاف فيصله نشي کېدی، ته چي له چا سره دوستي وکړې هيڅکله به ذليل نشي، او عزتمن به نشي هغه چي ته ئې دښمن وګڼې، بابرکته يې اې زموږ ربه او لوړ يې، له تا بخښنه غواړو او ستا په لوري درګرځو او توبه کوو.

اللّٰهم اغفرلنا و للمؤمنين و المؤمنات، و المسلمين و المسلمات اللّٰهم اصلحهم و اصلح ذات بينهم والف بين قلوبهم و انصرهم على عدوك و عدوهم اله الحق، لا اله غيرك.

اې مولا ربه! موږ ته بخښنه وکړې او با ايمان نارينه او ښځو او مسلمان نارينه او ښځو ته، خدايه! دوی اصلاح کړې، او د دوی ترمنځ اړيکي اصلاح کړې، او زړونه ئې سره نږدې کړې، ستا پر دښمن او د دوی پر خپل دښمن بری ورکړې، اې حقيقي معبوده! له تا پرته بل معبود نشته.

اللّٰهم عذب الكفرة و الق فی قلوبهم الرعب و خالف بين كلمتهم و انزل عليهم رجزك و عذابك و انزل بهم بأسك الذی لا ترده عن القوم المجرمين.

مولا ربه! کافران تعذيب کړه، په زړونو کي ئې وېره واچوه، په نظراتو او خبرو کي ئې اختلاف راولاړ کړه، په دوی خپل اضطراب او عذاب رانازل کړه، خپل هغه مصيبت په دوی نازل کړه چي له مجرمانو ئې نه ردوې.

**اللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ***

**الهي! ستا د رحمت هيله کوم، خپل ځان ته مي د سترګو رپ په اندازه ونه سپارې، ټولي چاري مي راته روغي کړې، له تا پرته بل معبود نشته.**

**يا حى يا قيوم يا ذالجلال و الاكرام يا ارحم الراحمين، برحمتك نستغيث فاغثنا.**

**اې تل ژونديه! اې قائموونکيه! اې د جلال او اکرام خاونده! اې ترهر مهربان زيات مهربانه! ستا د رحمت استغاثه درته کوو، زموږ لاس نيوى وکړه.**

**اللّٰهُمَّ فَارِجَ الْهَمِّ وَكَاشِفَ الْغَم، رَحْمَنَ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ و رحيمهما، إرحمنا رَحْمَةً من عندك تُغْنِينا بِهَا عَنْ رحمة مَنْ سِوَاكَ.**

**الهي! د اندېښنو وړونکيه، دغمونو پای ته رسونکيه، د دنيا او آخرت رحمان او رحيمه خدايه! له خپلي خوا پر موږ داسي پېرزوينه وکړې چي له تا پرته د بل چا له پېرزويني مو پرې بې نياز کړې.**

**اللّٰهمَّ اقْسِم لنَا من خَشْيَتِكَ ما تَحُولُ به بيننا وبين معصيتك، ومن طاعتك ما تُبَلِّغُنَا به جَنَّتك، ومن اليَقِين ما تُهوِّنُ به علينا مصائِبَ الدنيا، اللّٰهمَّ لا تجعلْ مُصيبَتَنَا في دِيننا ، ولا تجعل الدنيا أكبرَ همِّنا، ولا مَبْلَغَ عِلْمِنَا، ولا غاية رغبتنا، و لا تُسَلِّطْ علينا بذنوبنا مَن لا يخافك و لا يَرحَمُنا**

**الهي! له خپل خشيت او ترهي موږ ته هغه ځه راپه برخه کړې چي زموږ او له تا د معصيت ترمنځ خنډ شي او له خپل طاعت هغه ځه چي ستا جنت ته مو ورسوي او له يقين او باور هغه ځه چي د دنيا مصيبتونه**

راباندي آسانه کړي. الهي! په دیانت کې مو کومه ستونزه او مصیبت راپیدا نه کړې، الهي! دنیا راته ترټولو ستره اندېښنه او زموږ د علم وروستی حد او د خپل رغبت غایه او پای ونه گرځوې. او زموږ د گناهونو له کبله هغه څوك را باندې مسلط مکړې چې له تا وېره نلري او پر موږ رحم نکوي.
اللّهم اعنا و لا تعن علینا، اللّهم انصرنا و لا تنصرعلینا، اللّهم اهدنا و یسر الهدی لنا، اللّهم انصرنا علی من بغی علینا.
الهي! زموږ مرسته وکړې او زموږ په خلاف د بل مرسته ونکړې، الهي! موږ ته بری راکړې او بل پر موږ برلاسی مه کړې، الهي! موږ ته لارښوونه وکړې او په سمي لاره تگ راته آسان کړې. الهي! په هغه چا موږ ته بری راکړې چې پر موږ ئې تېری کړی.
اللّهم اغننا بحلالك عن حرامك، و بفضلك عن من سواك.
الهي! په خپل حلال رزق دې موږ له حرامو بې نیاز کړې او په خپل فضل دې موږ له تا پرته له بل چا مستغني کړې.
سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، نشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ نَسْتَغْفِرُكَ وَنتُوبُ إِلَيْكَ
الهي! تا ته سپېڅلتیا ده او ستاینه دې، شهادت ورکوو چې له تا پرته بل معبود نشته، بخښنه درنه غواړو او ستا لوري ته درگرځو او توبه کوو.
که کولی شې د وتر لمونځ دې حتماً د شپې وروستۍ برخې ته پرېږده او هغه وخت د تهجد د څو رکعته لمونځ په پای کې د وتر لمونځ اداء کړه.
له الله جل جلاله سره د راز او نیاز او د دعاء د ژر قبلېدو ډېر ښه وخت همدا د شپې درېیمه برخه ده، هلته چې نور په خواږه خوب وېده وي، هري خوا ته چوپتیا وي، له دنیوي فکرونو او مصروفیتونو فارغ او

حواس دي جمع وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه و سلم رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّتْ فَإِنْ أَبَتْ رَشَّ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ، رَحِمَ اللّٰهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَصَلَّى فَإِنْ أَبَى رَشَّتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ * رواه ابن ماجه

له ابوهريره رضى الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: الله دي پر هغه سړي رحم وکړي چي د شپې پاڅي، لمونځ وکړي او خپله مېرمن هم ويښه کړي ترڅو لمونځ وکړي، که چېري پورته نشوه نو څو څاڅکي اوبه ئي پرمخ وشيندي. الله دي پرهغه ښځي رحم وکړي چي د شپې پاڅي، لمونځ وکړي او خپل خاوند د لمانځه لپاره ويښ کړي که چېري پورته نشو نو څو څاڅکي اوبه ئي پرمخ وشيندي.

د دې مختصرى رسالې په پاى کي بايد ووايم: که له ما څوك پوښتنه وکړي چي په خپل ژوند کي له کوم څه ترهر څه زيات خوند او لذت اخلې؟ نو په خداى قسم چي زما د زړه ځواب به دا وي:

د شپې په زړه کي هغه لمونځ چي په هغه کي مي ډېري ډېري اوښکي له سترگو وبهېږي، هومره چي ټول مخ، ږېره او د سجدې ځاى مي په اوښکو لوند شي.

وآخردعوانا ان الحمد لله رب العالمين